شریعت

اونیزه

د افغانستان د طالبانو د اسلامي تحریك نشراتي ارگان

لومړی کال | [illegible] گڼه ۱۹ | دوشنبه د ۱۳۷۵ هـ ش کال دغویی(ثور) د میاشتی (۲٤) | د ۱۹۹٦ میلادی کال د می(۱۳) | د ۱٤۱٦ ق کال ذی الحجة (۲۵)

په مشکلاتو صبر وکړئ او تقویٰ کوئ!

لوی خدای (جل جلاله) فرمايلی دی: ای هغو کسانو چی ایمان یی راوړی دی (ای مؤمنانو!) صبر کوئ (په طاعت ، مصیبت او له معصیت ته) او ټینگ اوسئ ! په صبر (له دښمن سره په مقابله کښی) او محکم اوسئ ! (په اسلامی سرحدونو کی) : او ویریږئ ! له الله (جل جلاله) څخه ددی دپاره چی په مراد ورسیږئ (بریالی شئ!)

(آل عمران - ۲۰۰)

په جگړه کی ثابت قدم اوسئ!

له حضرت عبدالله بن ابي اوفي (رضي الله عنه) [illegible] رسول (صلی الله علیه وسلم) فرمايلی دی: [illegible] دمخامخ کیدلو (لیدلو) تمنا مه کوئ، له خدای [illegible] وغواړئ. خو کله چی ورسره مخامخ شوی (جگړه [illegible]) (ثابت قدم اوسئ) په دی پوه شئ چی جنت [illegible]

([illegible] - مسلم)

د قندهار محترم والی او د طالبانو د اسلامی تحریك د عالی شوری سرپرست ملامحمد حسن آخند دحرکت انقلاب اسلامی له هیئت سره په کتنه کی:

د طالبانو اسلامی تحریك د علماء کرامو په هدایت پیل شوی دی

دامیرالمؤمنین په توگه د محمدعمر (مجاهد) د ټاکل کیدوله امله مبارکی ورپیل شوه

له کندهار څخه زموږ خبریال خبر راکوی چی دثور په ۱۷ نیټه د سی شنبی په ورځ دحرکت انقلاب اسلامی افغانستان د امیر او جهادی رهبر محترم مولوی محمدنبی (محمدی) له خوا یو هیئت د عالی شوری په میلمستون کی د شوری له سرپرست او دعالی شوری له یو شمیر نورو غړیو سره وکتل.

خبریال زیاتوی چی په دی هیئت کی محترم مولوی رفیع الله (مؤذن) او محترم مولوی عبدالستار(صدیقی) چی دواړه د حرکت انقلاب اسلامی (دحرکت انقلاب اسلامی هیئت). افغانستان مرستیالان دی شامل ول، دوی په دی کتنه کی د محترم مولوی [illegible] مخ

د عالی شوری سرپرست د گیزاب ولسوالی د [illegible] شمیر جهادی قوماندانانو سره وکتل

د عالی شوری سرپرست او دکندهار والی الحاج ملامحمد حسن آخند د ارزگان ولایت د گیزاب ولسوالی یو شمیر جهادی قوماندانان [illegible] ثور په ۱۷ نیټه د طالبانو د عالی شوری په میلمستون کی وکتل. ([illegible] مخ)

یو شمیر اداره تسلول شوی ([illegible]) سوټر [illegible] خپل خاوند ته تسلیم شو

د کراچی له ښار څخه کندهار ته تسلول شوی ۱۹۹٤ ماډل (ازوډنگا) موټر چی دوه ورځی مخکی پاکستان کداری [illegible] خپل اصلی خاوند حاجی [illegible] حاجی عبدالله [illegible] [illegible] ([illegible] مخ)

د [illegible] شوری [illegible] حضرت [illegible] الله (مجددی) [illegible] په مرکه کښی:

د ربانی قواوو د [illegible] ټولو ځای لپاره [illegible] اړی چی د [illegible] جگړه د [illegible] شوی ده

[illegible] کابل له اداری سره [illegible] پرځای کیږی په وی او [illegible] قوماندانان هم ورسره ولاړ شی

د ربانی اداری په پلوی جگړه کوونکی مباح الدم او مقابل لوری شهیدان دی

یادونه : د محترم حضرت صاحب [illegible] تاریخت [illegible] املـه [illegible] په هغو کی له [illegible] محترم لیستانکی [illegible] [illegible]. (اداره).

یك فروند طیاره، ترانسپورتی اداره، کابل در میدان هوایی چغچران از بین برده شد

خبرنگار ما از قندهار خبرمیدهد که یك فروند طیاره ترانسپورتی اداره نامنهاد کابل که به ملیشه های محاصره شده، شان در مرکز ولایت غور(چغچران) مهمات را انتقال میداد به اثر فعالیت مرکز [illegible] تحریك اسلامی طالبان کشف و توسط طیارات شکاری قوای هوایی تحریك اسلامی طالبان بصورت کامل از بین برده شد.

محترم ملایارمحمد والی هرات در ملاقات با باشندگان اهل تشیع در ولایت هرات

ما امید واریم که در وطن عزیز ما در پرتو دین مبین اسلام امن و امان برقرار گردد

خبرنگار ما از ولایت هرات خبر میدهد که بتاریخ ۱٦ ثور یك تعداد باشندگان اهل تشیع ولایت هرات در مقام ولایت با والی هرات محترم الحاج ملایارمحمد اخند ملاقات نمودند.

در این ملاقات باشندگان اهل [illegible] ص٤

فتنه انگیزان شریر در ولسوالی دایمیرداد (وردك) بشدت کوبیده شدند

به اساس راپور مخابروی ۱۳۷۵/۲/۲۳ ، امنیت عام و تام در ولسوالی متذکره تأمین گردید

بك راپور مخابروی، تحریك اسلامی طالبان از ولایت وردك خبر میدهد که یکتعداد فتنه انگیزان شریر در ولسوالی دایمیرداد از روش برادرانه و خوشبینانه، مسئولین ولسوالی متذکره مقابل خود استفاده، ناشایسته برده، به تحریك مسلحانه علیه امنیت وارام مردم منطقه دست زدند بعد از آنکه نیرو های امنیتی تحریك اسلامی طالبان غرض اقامه و تحکیم امن داخل اقدام شدند فتنه انگیزان شدیداً کوبیده منطقه را از لوث آنها پاك سازی نمودند که جزیات آن در آینده ان شاء الله به اطلاع خوانندگان خواهد رسید.

امیرالمؤمنین محمدعمر (مجاهد) د هرات د امنیت رئیس ښاغلی برهانی خپل حضور ته وماته

له کندهار څخه زموږ خبریال خبر راکوی چی امیرالمؤمنین محمدعمر(مجاهد) د هرات د امنیت رئیس ښاغلی برهانی د هغه ولایت د امنیتی چارو د ارزیابی په اړه خپل حضورته وماته.

خبریال زیاتوی چی په دی کتنه کی د هرات د امنیت رئیس ښاغلی برهانی امیرالمؤمنین ته دهرات د امنیت په اړه یوړه معلومات ورکړل [illegible] مخ

[illegible] د [illegible] کابل د ربانی [illegible] اداره ده

له کندهار [illegible] څخه زموږ خبریال خبر راکوی، چی د [illegible] نیټه د طالبانو د عالی شوری په میلمستون کی دهغه ولایت عالی شوری [illegible] د کندهار د والی ملا محمدحسن اخند [illegible] شوری غړیو [illegible] د [illegible] الشان قرآن [illegible] مبارکو آیتونو په [illegible] پیل شوه [illegible] د [illegible] اداری چارو او [illegible] چارو په اړه [illegible] [illegible] [illegible] د [illegible] څخه د [illegible] او د [illegible] او اجتماعی چارو [illegible] واپیل شول [illegible] مخ

په غزنی کی یوه اندازه وسله او مهمات ونیول شول

د غزنی له ولایت څخه زموږ خبریال خبر راکوی چی دغه ولایت د [illegible] کی یوه اندازه [illegible] او [illegible] وسله [illegible] شوه. [illegible] مخ

د پکتیکا ولایت د بیاوده‌انولو په اړه د خیریه موسسو د پام وړ

د پکتیکا ولایت دبهرنیو اړیکو دفتر په خبر موسسو باندی غږ کړی دی چی ددغه ولایت دهراړخیزی ودانی چاروته دی را ودانگی.

د پکتیکا ولایت دبهرنیو اړیکو دفتر په خپل دغه غوښتنلیك کی وایی: [illegible] مخ

[illegible] ولسوالی اداری جوړی وکړی

دکندهار ولایت دمیوند له ولسوالی څخه د شریعت اوونیزی خبریال خبر راکوی چی دثور په ۱۹ نیټه امیرالمؤمنین محمدعمر(مجاهد) د هغی ولسوالی اداری ار پرلسزی چاری وکتلی

کله چی امیرالمؤمنین د میوند [illegible] مخ

د راکټ [illegible] د کابل [illegible] په [illegible] ورکړی [illegible] پیل شو

(٤ ع)

دظلم او ناروا د دوام پیوازینی علت اختلاف او ځان غوښتنه ده

[illegible] د اسلام [illegible] کی چی [illegible] طالبانو د اسلامی غورځنگ [illegible] خلاف سره متحد شی

هغه ائتلاف چی په صداقت ولاړ نه وی د اسلام د پلویانو په صد وی پایښت نه لری.

(مولوی عارف الله وعارف)

د هیواد له گوټ گوټ څخه د شریعت اوونیزی خبریال خبر راکوی چی [illegible] په کابل کی زموږ مسلمانو هیوادوال په افغانستان کی د اسلامی نظام د ټینگښت [illegible] او د ظلم او ناروا [illegible] ورکړی.

خبریال زیاتوی چی [illegible] د [illegible]

په حقیقت کی [illegible] اسلامی [illegible] کابل د [illegible] په اړه یی د [illegible] لاوموتو له مخی پوره معلومات ورکړل [illegible] اسلامی نظام د نفاذ لپاره د مسلمانانو خلکو مکلفیتونه په گوته کړل.

[illegible] زموږ خبریال خبر راکوی چی [illegible] لومړی ځل لپاره د [illegible] په حرمات کی [illegible] او د اختر تر [illegible] ولایت د والی [illegible] مولوی عارف الله (عارف) حاضرینو ته په خطاب کی وویل: (٤ مخ)

دفراه په ولایت کښی د چارو د ښه ترسره کولو له امله خوښی څرگنده شوه

دکندهار څخه زموږ خبریال خبر راکوی چی تیره اوونی د فراه د ولایت والی محترم ملااخترمحمد اخند په داسی حال کی دعالی شوری له سرپرست ملامحمدحسن اخند سره وکتل چی دغه ولایت د گلستان د ولسوالی ولسوال محترم ملاعصراخند [illegible] مخ

د مسلمانو [illegible] دوهم مخ

په افغانستان کی د اسلام ځلاند تاریخ ته یوه لنډه کتنه

دوهم مخ

د اسلامی امت بیخ بناء

دوهم مخ

خدمات دینی و اجتماعی علماء در تاریخ معاصر کشور جنبش مشروطیت (اول)

صفحه دوم

لاسونه دی مات شه !

دریم مخ

دا به څنگه ایمان وی؟

(دریم مخ)

ربانی نه یوازی افغانستان جوړ نه کړ بلکی نور یی هم په کنډوالو بدل کړ

(دغزنی علماء)

د طالبانو اسلامی تحریك له اسلامی نظام [illegible] په برنه [illegible] نور [illegible]

([illegible])

د پکتیکا ولایت له خبر کوټی څخه زموږ خبریال خبر راکوی چی د هغه ځای علماوو، سپین ږیرو قامی مشرانو او عامو مسلمانانو په یوه پرتمینه غونډه کی د طالبانو له اسلامی غورځنگ سره خپل غوڅ ملاتړ څرگند کړ.

غونډه د عظیم الشان قرآن د څو مبارکو ایتونو په تلاوت پیل شوه او دروسی د سیمی مشهورو او جیدو علماوو گهوری او مفصلی ویناوی وکړی. دوی وویل:

د ربانی تش په نامه اداری ونه کړای شول چی په هیواد کی یوه قوی او مستحکمه اداره جوړه کړی او نه یی د دوی [illegible] جهاد اصلاً د اسلامی نظام په پلی کولو سره تحقق ورکړی، دا دملت غوښتنه ده او ملت د اسلامی نظام د نفاذ [illegible] دی، خو ربانی نه یوازی افغانستان جوړ نه کړ بلکی نوری هم په کنډوالو یی بدل کړ.

خبریال زیاتوی چی علماء کرامو پخپلو ویناوو کی زیاته کړه: د طالبانو اسلامی غورځنگ چی تر اوسه یی د افغانستان څخه زیاتی سیمی یی په کنترول کی دی د اسلامی نظام په نفاذ سره یی په ټولو سیمو کی [illegible] مخ

دزابل ولایت دیولړ مشکلاتو د حل په غرض اړونده مراجعوته هدایات ورکړل شول

دثور په ۱۳ نیټه د عالی شوری سرپرست محترم ملامحمدحسن اخند د زابل ولایت له والی محترم ملامحمد نسیم اخند سره وکتل.

زموږ د خبریال دخبر له مخی په دی کتنه کی په اداری، اقتصادی [illegible] مخ

سرمقاله

شریعت

آیا د وسلی بین المللی بندیز به کشاله حل کړی؟

په بین المللی حلقو کی اوس دا خبره را برسیره کړای شوی ده چی د افغانستان د کشالی د حل لپاره دی په جنگ اخته خو اوو باندی د وسلی دراوړلو بندیز ولگول شی!

تر اوسه پوری لا دا خبره د گنگو سی په څپو کی ده، که چیری بین المللی پریکړه وربانډی صادره شی نو بیا به یی اغیزه یی له شکه د ربانی په شریدلی اداره باندی پریوزی ځکه چی هغه پول پول وسلی واردوی، روس او هند بی دریغه نظامی مرستی ورسره کوی!

خو خبره داده چی په روس او هند باندی به دغه پریکړه څوك عملی کړای شی؟ ځکه چی په کلونو کلونو د ملگرو ملتونو د کشمیر په هکله پریکنده فیصلی هند با بیزه غورزولی دی، نه یی پخپله پرواکوی او نه په ملگروملتونوکی دومره سیك شته چی دعمل په ډگرکی یی په زور سره وربانډی پلی کړی، امریکا چی نن سباځان بی سیاله قوت گڼی او ځان د نړی د امنیت سرپرست بولی هغه هم په هند باندی غاښونه نه لگوی، چی بیا به کم زوری شی او چین به په چا ویروی؟ همدا وجه ده چی په هند باندی داهم نشی منلای چی جنوبی آسیا له اتومی وسلونه پاکه سیمه وگرزوی او نه یی څوك له اتومی تجربو څخه ایسارولی شی، هو! امریکا له پاکستان نه د پاکستان خپلی هغه پیسی په کلونو کلونو ایساری کړی وی چی د F16 پوله الوتکو او نور پوځی سامان په بیه کی یی ورکړی وی، هغه په دی گناه(!) چی پاکستان د خپلی دفاع لپاره اتومی کار پیل کړی ژ نن چی هندله داسی بین المللی سرغړونو نه څوك نشی ایسارولی او پایی نه ایساروی نو په روس باندی خو بیا د غرب او امریکا شفقت له هرچانه زیات دی نو کله به یی خوابدی کړی چی د کابل اداری ته وسلی مه ورکوه بندیز لگیدلی دی،

دا خو ځینی هغه خنډونه دی چی که بندیز ولگول هم شی د هغه د عملی کولو په لاره کی پاته دی.

پاته شوه دا خبره چی بندیز لگول خو هغه وروستنی علاج دی چی دربانی دسمولو بله چاره پاتی نه وی او که خبره همسی وی نو بیا ملگری ملتونه محمود مستیری ولی زغلوی، رازغلوی چی د کشالی د حل تمه یی هم نه ورته کیږی؟ بله خبره داده چی که د ملگرو ملتونو او امریکا له ربانی څخه په افغانستان کی د استقرار او امنیت راوستلو تمه شکیدلی وی لکه چی د افغانستان د خلکو ورنه شکیدلی ده نو بیا ولی په بین المللی غونډو کی دده نمایندگانو ته د گډون بلنه ورکوی؟ په داسی حال کی چی په افغانستان کی په یوه

(۲مخ)

شریعت

دامتیاز خاوند : د افغانستان د طالبانو اسلامی تحریك
دتاسیس کال : ۱۳۷٤ هـ ش
د لیکوال هیئت تر کتنی لاندی
مسؤول مدیر : الحاج مولوی احمدجان
ټیلفون : ۸٤۰۳۷۸
آدرس : په پیښورکښی دطالبانوداسلامی تحریك نمایندګی
دیوی ګڼی بیه : په هیواد کښی (۲۰۰) افغانی
په پاکستان کښی (۳) کلداری

سرمقاله ...

لویښت ځکه هم دده حکومت نه چلیږی، که د ګومو ځایونو دعوه کوی هغلته یی خپل سړی داړه مار ټوپکیان د خپلی خوښی ظالمانه حکومت چلوی؛

په دی سربیره: د میرمن رابن رافایل له ربانی سره د وروستی کتنی نه را دی خواته په ربانی کی نوی ساه پوکلی شوی ده نو ځکه یی پاکستان ته د سفارت د سوځولو په نتواتی هیئت وروستاوه او هغوی هم په پراخ تندی ومانه؛ داسی ښکاری چی د طالبانو تر کنترول لاندی سیمو کی ملګری ملتونه د مرستندویه ادارو د فعالیتونو د بندیز خبره کوی هغه یه هم د رافایل له دغه وروستنی سفر سره اړیکی لری؛ که دا خبره نه وی چی غرب او امریکا له اسلام سره د بیخنده دښمنی،له امله په افغانستان کی اسلامی اغیز من حکومت نه غواړی نو بیاولی د طالبانو داسلامی تحریك پر امنیت ټینګول، له نیمایی نه په زیات افغانستان کی د نظم او استقرار راوستل، اسلامی نظام او شرعی حدود جاری کول،... دا هر څه بنیاد ګرایی بولی او نه یوازی دا چی هیڅ اعتبار نه ورکوی بلکی خاوری هم وریسی شندی؟ په تیره بیا دا چی د طالبانو د اسلامی تحریك د مخدره موادو د قاچاق او کرنی په ضد ټینګ او اغیز من ګامونه په هیڅ نه شماری او د جنرال دوستم له هغی ګواهی سره سره چی د مخدره موادو په قاچاق کی د ربانی دلوی لاس لرلو په هکله یی دامریکا په غولی ادا کړه لا بیا هم ربانی تاییدوی او په پټه کی سبر ورسره خوځوی؛ د ملګرو ملتونو او امریکا له دغی دوه رنګه پالیسی نه داخبره راخیژی چی په افغانستان کی د ولس د خوښی حکومت او نظام نه غواړی، که یی غوښتلای نو د هغه جهت د (طالبانو اسلامی پاڅون) تایید به یی کاوه چی د داسی حکومت د راوستلو قوت لری او ددغی ازموینی له ړګر نه بریالی راوتلی دی، په بین المللی غونډو کی به یی د ګڼون بلنه ورکوله، سیاسی تایید به یی ورسره ملګری ؤ، په سیمه کی به یی خپلو دوستانو ته هم دهغه قوت د تایید لارښوونه کړی وه، د مخدره موادو د مخ نیوی وسائل به یی په لاس کی ورکړی وو، مرستندویه اداری به یی دی ته هڅولی وی چی خپل فعالیتونه دهغه قوت تر کنترول لاندی سیمو کی تیز کړی، هغو افغانانو ته چی د دوی خبره اغیزه وربادی کوی داسی مشوره به یی ورکړی وه چی ددغه قوت په څنګ کی ودریږی که دغه کارونه یی پخوا کړی وای یا یی اوس وکړی نو افغانان به پوه شی چی غرب او امریکا په ریښتیا د ربانی د بی سیکه او بی کفایته اداری په ځای دغلته یو داسی اغیز من او پیاوړی حکومت جوړول غواړی چی د افغانانو غوښتنه ده، دوران افغانستان د ودانولو لپاره ضرور او په سیمه کی د سیاسی او اجتماعی استقرار راوستل ورته اړدی. ■

د مسلمانی عقیده

اوولسمه برخه

غازی خیل

په بصره کی:

۱- انس بن مالك انصاری رضی الله تعالی عنه د رسول الله صلی الله علیه وسلم د ډیر عمر خدمتګار، د هغه(ص) له هجرت نه تر وفاته پوری ورسره ؤ، ډیر حدیثونه یی ورڅخه اوریدلی دی بیا یی له ابوبکر، عمر، عثمان ، ابی بن کعب رضی الله تعالی عنهم څخه ډیر علم زده کړی الله تعالی ډیر اوږد عمر ورکړ، یوازی بخاری(رح) اتیا(۸۰) حدیثونه، یوازی مسلم(رح) اویا(۷۰) حدیثونه او دواړو ۱۲۸، حدیثونه ورڅخه روایت کړی دی په ۹۳هـ کی وفات شوی دی رضی الله تعالی عنه.

۲- ابوالعالیة رفیع بن مهران الریاحی رحمة الله تعالی علیه د بنی ریاح ازاد کړی، له عمر، ابن مسعود، علی، عائشی صدیقی رضی الله تعالی عنهم څخه یی روایتونه کړی دی، دی وایی ابن عباس(رض) په زه په هسك ځای ورسره کینولم، قریش به لاندی ؤو او ویل به یی چی: علم دغسی شریف ته شرف ورزیاتوی او پادشاهان په تختونو کښینوی، په ۹۰هـ کی وفات شوی دی رحمة الله تعالی علیه.

۳- حسن بن یسار زید بن ثابت (رض) ازاد کړی چی په حسن بصری مشهور دی، رحمة الله تعالی علیه، په مدینه منوره کی لوی شوی دی، د حضرت عثمان(رض) د خلافت په وخت کی یی قرآن مجید یاد کړ، بیا زلمی شو او جهاد یی پیل کړ، علم، عمل او جهاد ته یی دوام ورکړ، له مشهورو توریالیو او میړنیو څخه ؤ، له ډیرو اصحابو کرامو رضی الله تعالی عنهم څخه روایت کوی، ابن سعد(رح) ویلی دی چی: اوچت عالم، ثقه، حجت، د اعتماد وړ، عابد، دلوی علم خاوند، فصیح، ښایسته او جمیل سړی ؤ، حقه وینا به یی کوله، دچاله ملامتی څخه نه ویریده، په ۱۱۰هـ کی وفات شوی دی، رحمة الله تعالی علیه.

٤- ابو الشعثاء جابر بن زید د ابن عباس(رض) شاګرد رحمة الله تعالی علیه، له ابن عباس(رض) څخه روایت دی چی: که د بصری خلك د جابر بن زید په وینا عمل وکړی ورته روا ده، ځکه چی دی په هغه څه پوهیږی چی د الله تعالی په کتاب کی دی، داسی روایت هم ورنه شوی دی چی: تاسی له مانه پوښتنه کوی(!) او جابر بن زید په تاسی کی موجود دی، په ۹۳هـ کی وفات شوی دی رحمة الله تعالی علیه.

۵- محمد بن سیرین د انس بن مالك(رض) ازاد کړی شاګرد رحمة الله تعالی علیه د حضرت عثمان، د خلافت دوه کاله پاتی وؤ چی زیږیدلی دی له انس، ابی هریره، ابن عباس، ابن عمر او نورونه روایتونه کوی رضی الله تعالی عنهم، فقیه، امام، د زیات علم خاوند، ثقه، او ثابت، د خوبونو په تعبیر کی علامه او دپرهیزګاری سرکرده ؤ، په ۱۱۰هـ کی له حسن بصری څخه سل ورځی وروسته وفات شوی دی، رحمة الله تعالی علیه.

٦- قتاده بن دعامه د دوس قبیلی نه ؤ رحمة الله علیه له انس، سعید بن المسیب او نورو رضی الله تعالی عنهم څخه روایت کوی، په سترګو نابینا مګر د زورو حفظ خاوند ؤ، ده ویلی دی چی په قرآن مجید کی داسی آیه نشته چی ما څه پکښی اوریدلی نه وی، له حفظه سره سره په فقه، عربیت، لغة، د عربو تاریخ او علم نسب کی یی پوره لاس درلود، په ۱۱۸ هـ کی وفات شوی دی، رحمة الله تعالی علیه.

په شام کی:

۱- عبدالرحمن بن غانم لاشعری رحمة الله تعالی علیه، له عمر، معاذ او نورو رضی الله تعالی عنهم څخه روایت کوی، حضرت عمر(رض) شام ته واستاوه چی هلته خلك په دین پوه کړی، دشام تابعینو(رح) له ده څخه ددین علم زده کړی دی، ډیر د لوی قدر وړ، ریښتینی او فاضل ؤ په ۷۸هـ کی وفات شوی دی، رحمة الله تعالی علیه.

۲- ابو ادریس الخولانی عائذ الله بن عبدالله رحمة الله تعالی علیه، دی له هغو کسانو څخه دی چی علم او عمل دواړه لری، له معاذ بن جبل او ډیرو اصحابانو رضی الله تعالی عنهم څخه یی علم زده کړی دی، دی د شام واعظ، قاضی او د شام له فقهاؤ څخه ؤ په ۸۰هـ کی وفات شوی دی رحمة الله تعالی علیه.

۳- قبیصه بن ذؤیب رحمة الله تعالی علیه له ابوبکر، عمر او نورو رضی الله تعالی عنهم څخه روایت کوی زهری(رح) ویلی چی دی د امت له علماؤو څخه ؤ، مکحول(رح) او شعبی(رح) هم دده په ښه علم ګواهی ورکړی ده په ۸٦هـ کی وفات شوی دی، رحمة الله تعالی علیه.

٤- مکحول بن ابی مسلم د هذیل یوی ښځی ازاد کړی دی رحمة الله تعالی علیه په اصل د کابل ؤ له کثرانو اصحابو(رض) څخه روایتونه کوی، په علم پسی یی ډیر سفرونه کړی دی او پوره برخه یی میندلی ده زهری(رح) او ابوحاتم(رح) د ده په ښه علم ګواهی ورکړی ده په ۱۱۰ هـ کی وفات شوی دی رحمة الله تعالی علیه.

۵- رجاء بن حیات الکندی د اهل شام استاذ او د دولت لوی شخص رحمة الله تعالی علیه له معاویه، عبدالله بن عمر، جابر او نورو رضی الله تعالی عنهم څخه روایت کوی، مطر الوراق(رح) مکحول(رح) او ابن سعد(رح) د ده په لوی علم ګواهی ورکړی، په ۱۱۲هـ کی وفات شوی دی رحمة الله تعالی علیه.

٦- عمر بن عبدالعزیز بن مروان رحمة الله تعالی علیه د بنی امیه اتم خلیفه، په مدینه منوره کی زیږیدلی او په مصر کی لوی شوی دی، له انس بن مالك او ډیرو تابعینو څخه روایتونه کوی امام، فقیه، مجتهد، په سنت پوه، دلوی شان خاوند، ثبت، حجة، حافظ، قانت لله، الله تعالی ته زړیدونکی او رجوع کوونکی ؤ، په عدل د حضرت عمر(رض) په شان، په زهد کی د حسن بصری(رح)، په علم کی د زهری (رح) غوندی ؤ، مجاهد(رح) ویلی دی: موږ ورغلو چی سوونه ورته وکړو مګر له ده نه مو ډیر څه زده کړل په ۱۰۱هـ کی وفات شوی دی، رحمة الله تعالی علیه.

په افغانستان کی د اسلام ځلاند تاریخ ته یوه لنډه کتنه

نعمانی

څلورمه برخه

اسلامی فوځ خپل منجنیقونه (دهغه وخت توپونه) نصب کړل او خونړی جنګ پیل شو چی په نتیجه کی د کابل د ښار قلعه ئی په منجنیق وویشته او لوی غاری په کښی جوړ کړ او پر هغه ځای کی حضرت عباد بن الحصین(رض) ټوله شپه په جنګ بوخت ؤ او مشرکانو ونه شوای کولای چی تر سحره پوری هغه ځای بند کړی. حضرت حسن بصری(رح) مشهور او جلیل القدر تابعی، د اسلامی امت نومیالی عالم به دافرمایل چی: زما دا خیال نه ؤ چی یو سړی دی دومره سړو پر ځای کار وکړی، تر څو چی ما حضرت عباد بن الحصین پدی جنګ کښی ولید چی په یوازی ځان یی د زرو کسانو مجاهدینو کار انجام کړ.

پدی جنګ کښی یو شمیر مسلمانان شهیدان شول او په مقابل کښی زیات شمیر افغانان مړه شول په اسلامی فوځ کښی چی یو شمیر صحابه (کرام) او تابعین عظام (رض) پدی جنګ کښی شهیدان شویدی دهغو مزارونه د کابل دښار په نواحیو کښی موجود دی چی ځینی تر ننه پوری د شاه دوشمشیره ولی په مزار او د شهداء صالحینو په مزارونو شهرت لری.

د اسلامی تاریخ پوهان لیکی چی: ابورفاعة بن الحارث العدوی البصری جلیل القدر صحابی(رض) د عبدالرحمن بن سمرة (رض) په ملګرتیا کابل ته راغلی وؤ دکابل په جنګ کی دیو تعداد ملګرو سره په ٤٤هـ = ٦٦٤ میلادی کال کښي شهید شویدی: او په هغه مقبره کښی ښخ دی چی تن د شهداء صالحینو په هدیره یادیږی.

دکابل خلکو خپل جنګ د فیلانو په ذریعه مخ په وړاندی بیولو چی د عربی قوماندانانو اسونه ترینه وربدل او تیښتی ته مجبوربدل یوه ورځ حضرت عبدالله بن حازم(رح) د جنګ د لومړنی لیکی قوماندان وغوښتل چی ددی فیلانو د شکست لپاره د حضرت قعقاع (رضی الله عنه)، دحضرت عاصم (رضی الله عنه)، د حضرت حمال (رض)، او د حضرت ربیل هغه یاد تازه کړی چی هغوی د قادسیی په جنګ کښی د ایرانی فیلانو (دابیض او داجرب فیل) په وړاندی د شکست ورکولو لپاره کوم تاکتیك په کار اچولی وؤ، هلته هم داسی وؤ چی دصحابو (کرامو) د تابعینو عظامو(رض) د مجاهدینو اسونه د فیلانو څخه وربدل او تیښتی ته مجبوربدل نو حضرت سعد بن ابی وقاص(رض) هغه څلورو تومبالیو قوماندانانو ته وظیفه ورکړه تر څو پیاده په دغو دوو فیلانو چی د ابیض او اجرب په نوم یادیدل او د فیلانو د لښکرو مشری یی په غاړه وه حمله وکړی تر څو خلتمونه ترینه پری کړی او سترګی ترینه و باسی هغو څلورو بهادرانو همدا کار ترسره کړ نو د فیلانو لښکر شکست ته مجبور شو.

دلته هم حضرت عبدالله بن حازم (رض) د کابلیانو په هغه فیل پیاده حمله وکړه چی د ټولو فیلانو په وړاندی جنګیده هغه فیل یی وواژه دهغه د قتل څخه وروسته د کابلیانو لښکر شکست ته مجبور شو نو دکابل علاقه د حضرت سیدنا عبدالرحمن بن ثمرة پر لاس فتح شوه ددی علاقی څخه بندیان او غنیمتونه مدینی منوری ته لیږل شویدی چی په بندیانو کښی د حضرت ابوعبیده نافع مولی ابن عمر(رض) نوم هم راځی، د حضرت نافع د ژوند په حالاتو کښی د علم الرجال پوهان لیکی چی: حضرت نافع کابلی الاصل مدنی النشاة دی په کابل کښی پیدا شویدی، د ٤٤ هـ = ٦٦٤م کال په جنګونو کښی چی کابل فتح شوی دی دی د اسیرانو په جمله کښی مدینی منوری ته رسول شوی دی مشهور جلیل القدر تابعی او د حضرت ابن عمر (رض) خاص خادم په توګه پاته شوی دی، په ۱۱۷هـ = ۷۳۵ میلادی کال کښی او دیو روایت له مخی په ۱۲۰هـ = ۷۳۸م کال کښی وفات شوی دی.

حضرت عبدالرحمن بن سمرة (رض) په کابل کښی د ›واکمنی په وخت کښی د اداری کارونو تر څنګ د اسلامی دعوت کار هم په تیزی پیل کړی ؤ، آن تر دی چی امام ابوداؤد سجستانی المتوفی ۲۷۵هـ په خپل مشهور کتاب السنن کښی په خپل قوی سند دیو حدیث مبارك نقل کولو کښی دیو تابعی له خولی فرمایی: و به قال حدثنا عبدالرحمن بن سمرة وهوبکابل الخ په دغه اسلامی خط کښی د مملکت د اداری چارو واګی دهغه چاپر لاس وی چی د حکومتی چارو تر څنګ یی د نبی کریم (صلی الله علیه وسلم) د احادیثو درس یی هم کاوؤ بلکی د اسلامی دعوت کار یی د حکومتی اداری چاروڅخه زیات مهم ګاڼه.

حضرت عبدالرحمن بن سمرة(رض) په کابل کښی دری کاله حکومت کړ پدی او پدی موده کښی د افغانانو مغزو کښی د اسلام سپیڅلی شریعت او مبادی او اصول یی د امت د لوړ کچ فقهاؤ: محدثینو او نامتو پیاوړو علماؤ (رح) په ذریعه په محکم ډول تثبیت لی وؤ او د دوی په زړونو کښی یی د اسلام ځلاند عقاید په راسخه توګه ځای پر ځای کړی وؤ چی د علماؤ کرامو په سر کښی حضرت سیدنا حسن بصری(رح) وجود درلود او دهغوی د عالی تعلیماتو اثار تر ډیره وخته پوری د افغانستان په مسلمانانو کښی خصوصاً د کابل په مسلمانانو کښی ښکاره ؤ.

حضرت عبدالرحمن بن سمرة (رض) ددی صوری او معنوی فتحی څخه وروسته د شرك او د بی دینی د مرکزونو د ختمولو لپاره دری پیاوری قوماندانان هریو مهلب بن ابی صفرة العتکی الانصاری(رح) او جریر بن عبدالله الجبلی (رض) او ستان بن مجبق الهذلی(رض) توظیف کړیدی او دی په خپله دحضرت سیدنا معاویه بن ابی سفیان (رضی الله عنه) په امرپیرته په عراق کښی یو مشهور ښار بصری ته ستون شویدی او دده پر ځای حضرت ربیع بن زیاد په سیستان باندی دوالی په حیث ټاکل شویدی او د دی هدایت ورته شویدی چی کابل باید د سیستان څخه اداره شی او حضرت سیدنا عبدالرحمن بن سمرج (رض) په بصره کښی په ۵۰هـ= ٦٧۰م کال کښی وفات شوی دی، د تاریخ مشهور امام علامه احمد بن یحیی البلاذری په خپل کتاب فتوح البلدان کښی لیکی: چی حضرت عبدالرحمن بن سمرة (رض) ته دده هغو خادمانو چی دکابل څخه ورسره راغلی وؤ دده په قصر کښی چی په بصره کښی وؤ یو مسجد دکابل د ابادی په نمونه جوړ کړی ؤ چی تر دیر وخته پوری موجود وؤ او خلکو د هغه تماشه کوله.

فتوح البلدان ص ۳۸۸، تاریخ سیستان ص ۸۹، تاریخ الامم و الملوك د ابن جریر الطبری ص ۱۷۰ ج-٤، تاریخ افغانستان بعد از اسلام د حبیبی ص ۱٦۲-۱٦٤ ج-۱، او تاریخ افغانستان د احمد علی کهزاد ص ۵٤۰ ج-۲.

دکابل په نیولو د افغانستان بشپړه فتحه نده ترسره شوی بلکی په افغانی خراسان کښی دوه د شرك مذهبونه په ډیرو منطقو کښی چلیدل چی یوته یی لوی مذهب او بل ته یی وړوکی مذهب ویل کیده. لوی مذهب بت پرستی او وړوکی مذهب زردشتی بلل کیده، لکه وړاندی مو ترینه یادونه وکړه د کابل ښار د مرکز په توګه د کاپیسا واکمنانوله خوا ددی لپاره ټاکل شوی ؤ چی د اسلام د یاغورانو مخه ددی څخه وړاندی په جنګ ونیول شی چی دوی کاپیسانه ورسیږی او بیا کاپیسا په زوور ونیسی ځکه کاپیسا ددی منطقی مهم پایتخت او مرکز ګڼل کیده همدا وجه ده چی په ځینی تاریخونوکښی د کاپیسا نوم د اریانا د مرکز او د پایتخت په نوم ډیر یادشویدی، او په عربی تاریخونوکښی د کاپیسا د نوم پر ځای د کابل نوم یادشویدی او د کاپیسا نوم فقط په هغه وخت کښی یادشویدی چی په ۱۷۷هـ کال کښی د غوربند له لاری اسلامی فوځ پری حمله وکړه او دا منطقه یی ونیوله او همدارنګ مشهور مؤرخ ابوریحان البیرونی په خپل کتاب (ماللهند و دولة کابیش) کښی د کاپیسا یادونه کړیده نور په ټولو عربی تاریخونو کښی د کاپیسا پر ځای د کابل او د سیستان نومونه یاد شویدی، او دا ځکه چی څه وخت چی د کاپیسا واکمن پدی پوه شول چی د صحابو (کرامو) او د تابعینو (عظامو) لښکر د افغانی خراسان خاوری ته په داسی حال کښی ننوت چی په یولاس کی مضبوطه توره لری او په بل لاس کښی دهدایت شمعه، اسمانی کتاب او نبوی ارشادات لری نو پدغه وخت کښی دوی د خپل قدرت په زوال پوه شول نو پدی یی فیصله وکړه چی خپل مرکز باید تش په نوم د کابل ښار په طرف انتقال کړی او خپل سیاسی کیان باید په کاپیسا کښی چی ورسره پروان، لغمان، کنړ هم ؤو په خپل حال وساتی دکابل ښار له دی چی د جنګ لپاره ډیر مناسب دی او په زړه پوری استراتیژیکی غرونه او دری لری تر ډیره وخته پوری کولی شو چی د خپلو مخالفینو سره خپلی مقابلی ته دوام ورکړو نو لدی کبله کابل شاله کاپیسانه کابل ته راغی.

د اسلامی امت بیخ بنا

مولوی عبدالحکیم «مجاهد»

د اسلامی امت بیخ بنا (INFRASTUCTURE) خالص او سوچه الهی توحید تشکیلوی، توحید د اسلامی امت هغه اساسی او بنسټیز اصل دی چی له نورو ملتونو، قومونو، عقیدو او فلسفو څخه ده ته ځانګړتیا وربښی، هر انسان د توحید د کلمی په ویلو او تصدیق کولو سره د اسلامی امت غړی ګرزی، او هغه ازادی او حریت یی په برخه کیږی چی لوی خدای (جل جلاله) انسان ته ورکړی ده، له خدای تعالی نه پرته د هیچا په وړاندی د ذلت، خواری، خضوع او تضرع سرنه شی ټیټولی. د چا غلامی نشی منلی، یو استعماری او استثماری واکمنی ته غاړه نشی ښودلی. ټول هغه بتان او مصنوعی خدایان چی بشری ټولنه یی د عبادت او حکومت، د اقتصادی او اجتماعی اړیکو په لړکی عبادت کوی، او د انسان د فطری آزادی په وړاندی خندونه پیدا کوی له مینځه یی وړی، لوی خدای(جل جلاله) فرمایی: «دتاسی خدای (معبود) یو خدای دی، نو هغه ته تسلیم شی (حکم یی ومنی) زیری ورکړه (دخدای په وړاندی) عاجزی کونکوته». (الحج- ۳٤).

اسلام د انسان اړیکی له الله تعالی سره د عبودیت په اساس جوړوی، چی انسان به عابد وی او یوازی خدای (جل جلاله) به یی معبود وی نه بل څوك او بل شی. او د انسان اړیکی له انسان سره د ورورولی او برابری په بنسټ تشکیلوی چی مسلمانان سره ورونه او ټول انسانان د قانون په وړاندی یو برابر دی. لوی خدای (جل جلاله) فرمایی: «ووایه (ای محمده) چی ای اهل کتابو راځی هغی کلمی (خبری) ته چی ځموږه او ستاسی په منځ کی برابره ده، (هغه دا) چی له الله نه پرته به د هیچا عبادت نه کوو. او هیڅ شی به له الله سره شریك نه نیسو، او له الله نه پرته به (په خپلو منځونوکی) ځینی ځموږ ځینی نور پالونکی او خدایان نه نیسی. نو که دوی و ګرځیدل (له توحید نه) نو تاسی ورته ووایاست: ګواهان اوسی چی په ریښتیا سره موږ مسلمانان یو». (آل عمران- ٦٤).

په پورتنی آیت کی لوی خدای(جل جلاله) د اسلامی ټولنی تشکیل او جوړښت خالص توحید ښودلی، او د نړی ټولو ملتونو او قومونوته دهمدغه اصل په لور دعوت ورکوی. انسان ته د انسان او بل هر شی له عبادت څخه نجات ورکوی، د طاغوت او استکبار په مقابل کی یی دتوحید په قوت باندی دروی. دَ انسان له استعمار او استعباد څخه یی خلاصوی، په بل ځای کی الله(جل جلاله) د اهل کتابو دغه غلامانه او مشرکانه عمل په ګوته کوی او محکوموی یی: ودغو کتابیانو له الله نه پرته خپل عالمان، عابدان او د حضرت مریمی زوی مسیح (علیه السلام) خدایان ګرځولی دی. په داسی حال کی چی (په تورات او انجیل کی) دوی یوازی د یو الله په عبادت کولو باندی مامور شوی دیء. (التوبة- ۳۱).

اسلام لکه څنګه چی انسان د انسان د عبادت او نورو کائناتو د عبادت څخه خلاصوی، او دیو الله عبادت او حاکمیت ته یی رابولی. همداراز د انسانانو هغه مشرکانه عمل هم محکوموی چی د الله (ج) د حاکمیت او عبادت په ځای د ځان، نفس او هواد غوښتنو اطاعت او پیروی پیل کړی او نور انسانان د الهی قانون په ځای د خپل ځان د هوا او خواهشاتو منلو او پیروی کولوته مجبور وی لوی خدای (جل جلاله) فرمایی: «آیا هغه دی لیدلی دی چی خپل خواهش او هوایی د ځان معبود او اله ګرځولی دهء. (الفرقان- ٤۳).

نن سبا، دنړی زیاتره برخه په دغه ډول شرك باندی اخته ده، د الله د قانون په ځای د خپل ځان د خوښی او ارزو سره سم قوانین جوړوی او پیروی یی کوی. حتی ځینی مسلمانان خو تر دی حده په دغه مرض اخته دی. هر کار چی دده خوښ وی هغه اسلام بولی، او دهغه پیروی او عبادت کوی. یو وخت په زرګونو انسانان ددی د پاره تباه کوی چی مخالف لوری دده حاکمیت نه منی او دده ارزوګانوته نه تسلیمیږی، لهذا کافر او واجب القتل یی اعلان کړی، بل وخت همدغه کس یا ډله چی دده څنګه ته ودریږی او دده ځانی ګټی ؤ منی، بیا په زرګونو کسان ددی دپاره وژنی چی دغه باطل انسان یاډله په نورو باندی ؤ منی چی تر اوسه دده دهغه په خلاف جګړه کوله او واجب القتل یی باله.

دا ډول انسانان د الهی احکامو پیروی نه کوی، او هغه عملاً د حق او باطل دپاره معیارنه بولی، بلکی د حق او باطل معیار یوازی خپله دایه خپله ارزو او غوښتنه بولی، د تل دپاره د هغی د راضی کولو او خوشالولو د پاره کارکوی، ځکه لوی خدای(جل جلاله) په دی مرض باندی د مبتلا انسان دپاره په استفهامی انداز کی وایی چی آیا تا هغه لیدلی دی چی خپل خواهش او ارزو یی د ځان د پاره خدای او معبود ګرځولی دی؟

اسلامی امت باید د داډول مشرکانه اعمالو څخه ځان وژغوری او د تل دپاره په معروف باندی امر وکړی او د هر ډول منکر څخه خلك منع کړی. لوی خدای (جل جلاله) فرمآیی: «تاسی ډیر ښه امت یاست چی د خلکو د ښیګڼی دپاره پیدا شوی یاست، په ښوکارونو باندی به امر کوی، او له بدو کارونو څخه به خلك منع کوی، او په الله باندی به ایمان او باور لریء. (آل عمران - ۱۱۰).

د اسلامی امت د بیخ بنا څخه دادی چی د الله په رسولانو، کتابونو، ملائکو، تقدیر او د قیامت په ورځ به کلك ایمان لري. دا ځکه چی ملائکی دلوی خدای (جل جلاله) احکام پیغمبرانوته رسوی، او پاك پیغمبران علیهم السلام دغه الهی حکمونه خلکوته رسوی، او همدغه احکام د کتابونو او د پاڼو په شکل کی د الهی حکمونو مجموعی دی. په دنیا کی په دغو کتابونو باندی د عمل کولو روستنی الهی کتاب قرآن کریم دی چی دنورو ټولو کتابونو او پاڼو ناسخ دی. وروسته له

(۳مخ)

خدمات دینی واجتماعی علماء در تاریخ معاصر کشور

جنبش مشروطیت (اول)

تلخه، جوادی

قسمت سوم

جنبش فکری (سراج الاخبار) مقدمه و آغاز شد برای یك حرکت و جنبش سیاسی بنام (مشروطیت) جنبش فکری (سراج الاخبار) که به همت و ابتکار مدرس مدرسه، شاهی (چوب فروشی کابل) مولوی عبدالرؤف قندهاری آغاز بکار کرد و بیش از یك شماره بنشر نرسیده بود که تحت فشار استعمار انگلیس از طرف دولت وقت توقیف گردید. که ظاهراً به فعالیت آن خاتمه داده شد، و بعد از مدت کمی طالب و شاګرد آن مدرسه، دینی و علمی که از فیض ذلال آن مدرسه و استاد سیراب گردیده بود همت گماشت و آن جنبش از حرکت افتاده را به شکل یك حرکت متکاملتر سیاسی (جنبش مشروطیت) به راه انداخت و امید های از خدمت دین و وطن به آن بست. و آنرا آغازی برای نجات وطن از استعمار انگلیس و خلاصی از استبداد ایادی داخلی آن در فکر و اراده، خود خواند و دَر راه آن سر قربان کرد و جان داد اما چنین نشد این مولود، جنبش فکری سراج الاخبار (جنبش مشروطیت) همچون والد خود در قدم دومی به دربار رسید و بدست سیکولر عقده مند قراری دربار وقت که به تازگی ها با فکر و خیال جدید به وطن بازگشته بود و به تذویج دختران ماه روی خود شهزاده گان دربار را در حیط سلطه فکری خویش در آورده بود قرار گرفت و سبب قتل امیر عیاش و بدست وقت گردید، و شهزاده، مورد نظر خود را به اریکه قدرت رسانید و آنچه از نو آوری و تحول فکری و سیاسی مطابق خط غرب و سیکولریزم الحادی میخواست بدست پادشاه جوان و خالی ذهن اسیر پنجه، خود به میان آورد و در نتیجه سبب بدبختی کشور، پادشاه و ملت مسلمان افغان شده خلیج بزرگی و روحیه، خصومت آشتی ناپذیری میان اهل دین (علماء) و جوانان وطن به میان آورده و سد بزرگ در مقابل اعتلاء، مادی و معنوی کشور گردید.

دنباله، سخن را به جیبی صاحب داده تا این طالب مدرسه چوب فروشی را که خط استاد خود (مولوی عبدالرؤف) را که عبارت از جنبش فکری (سراج الاخبار) میباشد بعد از توقیف آن جنبش به شکل متکاملتر آن در چوکات یك جنبش فکری سیاسی (مشروطیت) اساس گذاشت و در راه آن جان سپرد به ما معرفی دارد:

— سردسته و پیشتاز این حرکت یکی از بقایای انجمن سراج الاخبار و محرر (منشی) این انجمن بود که ذیلاً در باره، او معلومات داده میشود.:

مولوی محمد سرورخان «واصف»

این شخص عالم و دردمند و شاعر فرزند مولوی احمدجان متخلص به تاجر ابن آزاد خان ابن زین العابدین ازمردم الکوزائی بالاژره ارغستان قندهار بود، که پدرش در عصر امیر عبدالرحمن خان از رجال اداری و منور و ادیب بوده و در تنظیم اداره، مملکت و قضاء بعد از تخریبات جنگ دوم افغان و انگلیس دستی داشت، چنانچه کتاب اساس القضات مشتمل بر ۱۳٦ قاعده را برای قضات و تنظیم محاکمه شرعی نوشت.... و در ۱۳۲۰ ق به مرض سل ریه از جهان رفت و نعش او در قندهار در جوار مزار صوفی صاحب مدفون است.مرحوم میرقاسم خان که همکار و معاصر واصف بود چنین گفت:

«رئیس جمعیت نهضت مشروطه ۱٦ صفر ۱۳۲۷هـ ق مولوی محمد سرور خان قندهاری الکوزائی متخلص به واصف بود.

او قبل از تأسیس مکتب ص(۳)

دا به څنگه ایمان وی؟

حقپرست

حق، حق دی او باطل، باطل. دا دواړه داسی روښانه دی لکه ورځ او شپه. نو دا به څنگه ایمان وی چه د دنیوی مال او متاع د پاره دحق لاره پریږدو او د باطل په خوا کښی ودریږو. هغه وخت چه په افغانستان کښی جهاد پیل شو حق او باطل دواړه روښان وو. له همدی امله اتلو مجاهدینو د حق لارونیوه او د باطل په مقابل کښی ودریدل فتحی او بری یی په برخه شول. حق په هیواد کښی امنیت غواړی، سوله غواړی او عدالت. باطل د څو محدودو کسانو حکمرانی غواړی، نا امنی غواړی، ظلم او بی عدالتی.

البته د حق او باطل په جگړه کښی دواړو خواؤته زیان رسیږی. خو د حق په پلوی سرخندنه شهادت دی او ویاړ او د باطل په پلوی مرگ یی آبی ده بی ننگی ده او عار.

دا به څنگه ایمان وی چه د حق مخ ته خاوری وشیندو او دباطل مخ ته اوبه. د حق پدوواېو او باطل وستایو.

دا به څنگه ایمان وی هغه قوتونه چه د خدای(ج) په مرسته کامیاب شول، عدالت یی قائم کړ حدودیی جاری کړل. چه ووایو دا کارونه ښه نه دی، دا عدالت نه دی دا دجهانی او بشری اصولو په خلاف کارونه دی. دا به څنگه ایمان وی چه دحق او نورانیت ځمکی ته خپل ماده پرسته گوداگیان ولیږو تر څو هغوی خلك و وژنی، نا امنی راولی او دانسانیت او اسلام په خلاف کارونه وکړی. دا به څنگه ایمان وی چه د کمونستانو غونډی کومی واژکرو او د حق د مینانو پر ضد پروپاگنډ وکړو، او تی بوتی ووایو او د دوی په خلاف خلك را وپاروو.

دا به څنگه ایمان وی چه د باطل له ځمکی ته چه په غضب او زور تیول شوی د حق په خوا شلیکونه وکړو، پاك انسانان ووژنو او د کمونستانو غونډی برپادی وکړو.

دا به څنگه ایمان وی چه د هغه چاسره دوستی وکړو کوم چه زموږ اتل مسلمانان بی وژلی، ماشومان یی حلال کړی او زموږ پاکه ځمکه ی ټوله قبرونه او مینونه گرځولی ده.

دابه څنگه ایمان وی چه د خدای(ج) د دښمنانو او د افغان د خاوری د زامنو د قاتلانو سره پټ تعهدونه وکړو او پټ قراردادونه ورسره امضاء کړو.

دابه څنگه ایمان وی چه د خدای(ج) په سپیڅلو مجاهدینو تاوره او سپك نوموته کیږدو. او بالاخره دابه څنگه ایمان وی چه په پښوسترگو روان یو، ظلم کوو، بی عدالتی کوو، چور او چپاول کوو او په دروغو سره داپه مقابل جانب ورتپو.

نو ای ملته! ای مؤمن ولسه! نور مه غولیږه ددین او وطن د دښمنانو په مقابل کی د سپر غونډی ودرېږه عمومی قیام وکړه داسی لکه چه د روسانو او دهغوی د گوداگیانو په مقابل کښی دی کړی ؤ.

خدای داجر او ثواب ورکوونکی دی

و ماذلك علی الله بعزیز

سره گلان پریوتل

غروال

له تور اوربل نه د جانان می سره گلان پریوتل
که توره شپه کی را ته ستوری له آسمان پریوتل
د مخ خالونه تورو اوښکو مخ په سر واخیستل
لکه دشنو گلونو پاڼی په گریوان پریوتل
ښکلی کابل می دوحشت لمبو لوگی لوگی کړ
سره تندرونه له آسمانه په یغمان پریوتل
خوږې وږمې د پسرلی باروتو لولپه کړی
جبل انصار کی له ښکلامی ارغوان پریوتل
چی دغروال له سترگو اوښکو فواری جوړی کړی
لکه غمی دسرو یاقوتو په دامان پریوتل

د ادب ملغلری

مولوی فائز (هرات)

طالبان راه حق

انقلاب ما قیام شیخ و شاب و بیک است
وعده های نصر قرآن عامل تحریک ماست
غیرت ما غیر را از خانه بیرون میکند
فتح و نصرت هم عنان رشته، باریک ماست
طالبان راه حق و وارث پیغمبریم
خطهٔ خاور بحق الارث در تملیك ماست
در نظام ما نگنجد رشوه، کذب و خلاف
سیرت نیکوی، مشعر به خلق نیك ماست
نزد ما تاجك و ترك و ازبك و افغان یکی است
خصم جان ماست هرکو مائل تفکیك ماست
توسن، عزم سر ربع مسکون میکند
فتح کابل عرصه جولانگه نزدیك ماست
شرقیان و غربیان گر عیب ما گوید چه باك
قدسیان در علیین آماده، تبریك ماست
بوم و بر زن لاله گون شد از شهیدان وطن
روح نور افشان شان شمع شب تاریك ماست

را لټوم

ملا اسد الله حنیفی

که نن وی که سبا ی ټول جهان را لټوم
دزړه په سوز او خړیکو جهانیان را لټوم
آواز د انقلاب مې زمزمه کړ تر کشمیره
په دنگو دنگو غرو کښی کشمیریان را لټوم
بتان به بیا نسکور شی د ډیلی په بتخانو کښی
په الله اکبر به غزنویان را لټوم
طاغوت به په گونډو ټوله نړی کښی کړی په گوټ شی
شیبلی د انقلاب به مظلومان را لټوم
خوځښت دی پیل شوی کور په کور دطالبانو
د شعر په څپو کښی مسلمان را لټوم
ویښ شوی مسلمان دی د فساد په کور ورځېژی
په کلیو پسی گرځمه ځوانان را لټوم
دیوال د برلین مات کړ ارادی د مظلومانو
اوس پوری له آمونه بیوزلان را لټوم
چی مانی زولنی کړی ځان آزاد کړ غلامی نه
الهام ورته بښمه آذریان را لټوم
په تورو تورو شپو کښی چی ډیوی په بلیدوشی
خنبغ نه ترلوبدیځه مؤمنان را لټوم
چی پورته جنازه د ځمکی سرنه د ښکیلاك شی
په داسی پاڅیدوبه (حنیفیان) را لټوم

دسنگر طالبه!

مولوی فقیر محمد خنجری

سلام پرتا ای دسنگر طالبه
ښکلی په تاشو سم او غر طالبه
د اسلام بڼ دی بیا تازه تازه کړ
ته ئی مالیار شوی خیالی گر طالبه
اوس ئی دټول ملت د هیلو مقام
ملت په تا لری باور طالبه
تانه ظالم او جابر ویره لری
د ظلم ټول به کړی ټغر طالبه
ته ئی دسولی، امنیت سپاهی
خدمت دی ارزی په سره زر طالبه
نصرت دخدای دې درسره مل وینمه
ته ئی وارث د پیغمبر طالبه
ماته په ډاگه دا حدیث ویلی
عالم له پاسه په منبر طالبه
ته چی قدم دخدای په لارکی اخلی
ملکی ږدی درته وزر طالبه
د کابل فتحی ته دی ملاتړلی
ورته ولاړ ئی په ډگر طالبه
ستا پاکو وینو لوی توپان جوړ کړی
خس و خاشاك وړی لوړبرطالبه
ستا دتوپك له ښکلی ږغ نه زارشم
ترټولو ماته معتبر طالبه
د (خنجری) شمله دی نیغه کړله
ځکه ځمائی د زړه سر طالبه

۱۳۷٤/۹/۱۵ دهراتښار

خدمات دینی و اجتماعی علماء ...

حبیبیه و پیش از آنیکه داکتر عبدالغنی به افغانستان بیاید، صاحب مفکوره های مترقی بوده، در حلقه، دوستان و نزدیکان خود، در زمینه مشروطیت شبها به بحث می پرداخت. در عصر امیر حبیب الله جمعیت العلمای موجود بود بنام جمعیت تألیف فتاوای سراج الاحکام، که در آن پنجاه نفر از علماء در درجات مختلف مصروف استخراج احکام شرعیه و تدقیق ترجمه و تحریر بودند. کار این جمعیت تحت نظر و اهتمام ده نفر از علمای متبحر مثل گل آخند زاده احمدزائی، مولوی عبدالرؤف آخندزاده قندهاری (مؤسس جنبش فکری سراج الاخبار)، سید غلام محمد آغای چارباغ (پدر میر قاسم خان) مولوی عبدالرزاق آخندزاده اندری، مولوی احمدجان آخندزاده توخی، ملا لالاگل ارغندیوال و غیره انجام میافت.

اکثر آنها بناء بر شهرت علمی در وقت امیر عبدالرحمن خان از جایهایشان به کابل احضار شده بودند که درجه، قاضی را داشتند، علماء نسبتاً جوان تر مثل مولوی محمد سرورخان واصف و مولوی قیام الدین خان نیازی به درجه مفتی و کم سن تر از آن مثل میر سیدقاسم خان به درجه، محرر گرفته شده بودند..... واصف و میر قاسم خان در همان وقت باهم مصاحبه داشته، آرزومند بودند که باید در مملکت یك سلسله قوانینی طرح شود و نظام حکومت بر اساس قوانین استوار گردد.

سلسله تفاهمات و صحبتهای دوطالب العلم مدرسه شاهی و همکار نهضت فکری (سراج الاخبار) را سید مسعود پوهنیار فرزند میرقاسم خان در کتاب خود (ظهور مشروطیت و قربانیان استبداد در افغانستان) چنین بیان میدارد:

(میر صاحب وقتیکه به کابل آمد روزانه به مسجد مدرسه واقع کتاب فروشی شهر کابل که مقر مدرسه شاهی نیز آنجا بود نزد پدر رفته به خواندن و نوشتن مصروف می بود. مسعود می افزاید سید قاسم طالب العلم بسیار ذکی مستعد و پرکار بود در کمترین فرصت علوم متداوله، عربی را فراگرفت چنانچه سیزده ساله بود که شرح ملاجامی را ختم کرده علم کلام و احادیث را با اصول فقه و منطق که در جمله، علم عربی بود تحصیل کرد. سید مسعود میگوید موصوف (میرقاسم) در مدرسه، شاهی به حیث محرر و همدرسهای دیگرش مثل مولوی محمد سرورخان واصف و مولوی قیام الدین خان نیازی که سن شان کمی بزرگتر از سیدقاسم خان بود بصفت مفتی مقرر شدند.در آن انبوه طالبان دانشمند همین دو نفر یعنی میر قاسم خان و مولوی محمدسرورخان واصف بودند که با داشتن افکار مترقی متوجه اوضاع سیاسی دنیاء خارج ووطن خود شده در آن باره همیشه صحبت و تعاطی افکار می نمودند.

سید مسعود میگوید جراید که از خارج کشور به داخل میامد و بدست میرقاسم قرار میگرفت واصف هم به سراچه قاسم خان رفته جراید متذکره را مطالعه میکرد و در جریانات سیاسی دنیا و حالات وطن بحث و مذاکره می نمودند. در همین وقت و همین جا بود که دو دانشمند به این تفاهم رسیدند که چاره برای رفع آن مظالم نیست، جز اینکه رژیم مشروطیت در مملکت رویکار آید.....

تا اینکه در یکی از جلسات شبانه در سراچه میر صاحب تصمیم مفکوره، تاریخی مشروطیت در افغانستان در ماه دسمبر (۱۹۰٦) تصویب و مسجل گردید. و برای پیشبرد آن مرام با اقدامات منسجم و تشکیل گروپها و اتخاذ دستور العمل و غیره تحت قیادت مولوی محمدسرورخان واصف آغاز یافت.

مرکز اصلی فعالیتهای اوشانرا مکتب حبیبیه تشکیل میداد و مولوی واصف در آن مکتب به صفت استاد ایفاء وظیفه مینمود. میرقاسم خان هم به حیث استاد صرف، نحو، منطق و اصول فقه در آن مکتب مصروف تدریس شد.

سید مسعود ورود میر صاحب را در مکتب حبیبیه در ۱۳۲۵ق از زبان خودش چنین بیان میدارد:

(چون به صحن مکتب داخل شد با غلام محی الدین خان افغان که با او آشنائی قبلی نداشت تصادف نموده موصوف به صورت شوخی برای میر صاحب بزبان پشتو گفت: (طالبه لگه چه لاره دی غلطه کړی ده داخو جومات (مسجد) نه دی مکتب دی). در همین موقع مولوی سرورخان واصف آمده میر صاحب را به اداره، مکتب برده به داکتر عبدالغنی که مدیر آن مکتب بود معرفی کرده با این ترتیب میر صاحب نیز درجرگه معلمین آن مکتب داخل شد).

به این اساس تحریك (مشروطیت اول) که دنباله، متکاملتر جنبش فکری (سراج الاخبار) بوده اولی از مسجد و مدرسه به ابتکار و زعامت ملای همچون (مولوی عبدالرؤف قندهاری) به خدمت دین و وطن شتافت، دومی (تحریك مشروطیت اول) همچنان از مسجد به همت و ابتکار محض طالب مدرسه (مولوی واصف) غرض نجات دادن وطن از استبداد داخلی و استعمار خارجی و شگوفائی مادی و معنوی وطن متعهدانه داخل پیکار شد.

امروز اگر طالبان را خداوند همت و نصرت عطاء فرمود که دست به قیام و انقلاب سترگ و عظیمی بزنند و همه کید و نقشه های شیطانی طاغوتهای خارجی و داخلی را منقلب سازند. انقلاب، جهاد و ملت مسلمان و مظلوم را از ایادی جباران، خونخواران و دزدان چراغ بکف که بر سر، مال، ناموس ملت مجاهد افغان دریغ نداشتند نجات بدهند و نظام اسلامی را در کشور بدون کم و کاست و بغیر از بهانه جویی و فرار از مسؤلیت اولیه و عظام دینی (تنفیذ شریعت) استوار سازند، دیروز هم طالب از مسجد و مدرسه ئی چراغ بدست گرفت و خواست که در کوچه های پرخم و پیچ و تاریك استبداد داخلی و استعمار خارجی رهنمایی شود و آنچه از خدمت در توان دارد در پیشگاه خدا و ملت مسلمان عاجزانه تقدیم دارد و در این راه جان دهد.

مکتب حبیبیه مرکز عمده فعالیتهای تحریك متذکره گردیده بود مبارزات و دعوتهای تحریك مشروطیت در حلقه های ده نفری به پیش برده میشد گفته میشود که جاسوسان دولت فعالیتهای تحریك را با لست بعضی افراد آن به امیر وقت اطلاع داده بودند، رجال تحریك در سدد شدند که دیگر باید خود مجبوراً مقصود و مرام خود را به امیر خبر دهند همان بود که در ضمن جلسه، بزرگ از مشروطه خواهان در مکتب حبیبیه عریضه، ترتیب شد که در آن توجه امیر را به تحولات جهانی و حالات کشور معطوف ساخته از آن تقاضا بعمل آورده بودند که به وضع کشور توجه نموده نظام سیاسی کشور را بر قانون و پاره اصلاحات استوار سازد که عریضه را به حضور امیر به جلال آباد غلام محمد خان میمنگی تقدیم داشت، گفته میشود که امیر در اولین وهله چندان نظر بدی به تحریك نداشت اما به تحریك بعضی از حلقه های دربار نظر امیر تغییر خورد. و روش شدیدی علیه جنبش اتخاذ نموده و در همانجا امر اعدام چهار نفر از افراد تحریك را صادر و عملی شد. و رهبر جنبش(مولوی واصف) هم به سرنوشت آن چهارتن مواجه شده اعدام گردید.

میر قاسم خان جریان اعدام آنرا چنین بیان میدارد:

«واصف استاد بود که مدرسه حبیبیه نظیرش باز به چشم ندیده، هم عالم بود، هم ادیب و شاعر و هم شخصیت بارز و جسور، او مرد خیلی ظریف و خوش طبع به شمار می رفت قاسم خان می افزاید: وی (واصف) با برادرش سعدالله و پسر عموی پدرش عبدالقیوم خان و کاکایش عبدالرحمن خان در شیرپور محبوس گردید و بعد از دو روز بلادرنگ در تپه، شیرپور به توپ بسته شده با سعدالله خان و عبدالقیوم خان یکجا اعدام شد.هنگامی که مولوی واصف را به توپ می بستند، وی برپاره کاغذی نوشت:

«در حالیکه به امنت بالله و ملائکته..... ایمان کامل داشتم، به حکم امیر کشته شدم».

و این اشعار را هم در آن کاغذ نوشت:

روزی که شود اذاالسماء، انفطرت
وندر پی آن اذا النجوم انکدرت
من دامن تو بگیرم اندر عرصات
گویم صنما! بای ذنب قتلت؟

به این شکل دولت وقت به عمر طالب مسجد چوب فروشی که اساس تحریك مشروطیت اول را گذاشته بود خاتمه داد. با اختتام عمر آن مسیر اصلی جنبش فکری(سراج الاخبار و تحریك مشروطیت اول) هم پایان گرفت و در قدم دوم به انحراف کشانیده شد که در آینده در آن مورد صحبت خواهیم نمود. انشاء الله ■

د اسلامی امت پیغ...

مرگه په ژوند باور لرل او په اخرت کی نیکانو ته جنت ورکول او بدانوته په دوزخ کی عذاب ورکول د الهی عدل تقاضا ده چی د اسلامی امت د ټولو کړو وړو د نیکو او بدو دپاره اساسی معیار دی، او د مسلمانانو اعمال په همدغه ایمان او ارزو پاندی په دنیا کی سرته رسول کیږی. لوی خدای (جل جلاله) فرمایی: «پیغمبر په هغه څه باندی ایمان لری چی په ده باندی د خپل رب له خوا ته نازل شوی دی، مؤمنان هم ټول په الله(ج)، د الله په پرښتو، د الله په کتابونو، او د الله په رسولانو باندی ایمان لری». (البقرة- ۲۸۵).

په بو بل ځای کی فرمایی: «څوك چی په الله او د اخرت په ورځ باندی ایمان لری، او نیك کاروکړی، نو دده اجر او ثواب دده دپالونکی رب په وړاندی شته». (البقرة-).

دغه ټول هغه اصول او اساسی ټکی دی چی د اسلامی امت بنسټ تشکیلوی، له دی نه پرته اسلامی امت هیڅ مفهوم نه لری ولو پرته د مسلمان هر عمل بی گټی دی ■

لاسونه دی مات شه!

لیکونکی: ابوالرفاء

د مازدیگر وخت ؤ. د کوټی انهیوالانو وویل: چه راځی د جلال آباد بازار په لور چکر ووهو. موږ ځلور واړه روان شوو. لس، دولس دقیقی وروسته د راډیو او تلویزیون جادی ته ورسیدو. څه گورو! یو تعداد خلك په ډیرو لکسو میغرو کښی یو خوا، بل خوا روان دی. څه خلك د شربت او شیریخ پروشی په دوکانونو کښی خوړل او څکل کوی، او ځنی نور په نورو کارونو کښی مصروف دی.

نا څاپه مو نظر په یو هلك (چه عمر به ئی دلسو کالونه زیات نه ؤ) پریبوت، چه د سرك په غاړه پر مخ پروت دی، او د سپیلنو د لوگی کولو لوښی ئی هم له څنگ سره دی. خیرنی شلیدلی جامی یی په بدن دی، دفقر، غربت، یتیمی، دربه دری، لوری او تندی نښی پری ځلیږی. ددی سوالگری هلك خواو شاته نهه، لس نور د هم دی عمر هلکان ولاړوو. دغه پروت سوالگری هلك په د سپیلنی د لوگی کولو د لوښی پری ئی غاړی ته پروت ؤ د بی هوشی په عالم کښی ئی بوه، بوه چیغه وهله، موږ ټول ورته ورغلو، پوښتنه مو وکړه چه داولی؟ دده نورو مصیبت ځپلو سوالگرو ماشومانو وویل چه: یو سړی د بایسکل نه راکوز شو او دی ئی په خیټه کښی په لغتو اوسوکانو ووهلو او بیا لاړ، ځما ملگرو ددی افسوسناکی صحنی په لیدو وویل: ظالمه کور دی وران شه! لاسونه دی مات شه! هر یو ددی مظلوم سائل شفاخانی ته د رسولو کوشش کولو، هلك مو رکشی ته اوچت کړو، په رکشه کښی دبل نفر ځائیدل مشکل ؤ نو فقط زه ورسره شفاخانی ته لاړم، هلته په عاجل اطاق کښی ډاکټر دی معاینه کړ، ډاکټر هم ددی واقعی په اوریدلو ډیر خفه شو. له لازمی تداوی نه وروسته هلك په خیرو راغی، او ماتری پوښتنه وکړه چه ته څوك ئی؟

له ډیرو پوښتنونه وروسته د هلك په باره کښی معلومات په دی ډول لاس ته راغلل:

نوم ئی جاوید دی، دجلال آباد د بهسودو اوسیدونکی دی. د روسانو په ضد په جهاد کښی ئی پلار شهید شوی دی، مورئی بل میړه کړیدی،د مور له دوهم مېړه نه پس دا یتیم دی پلتدر وشړلو، او اوس ئی په دغه کور کښی ځای نشته.

هلك می بیرته هم هغه ځای ته راووست، د ډاکټر لیکلی نسخه دوا می ورته واخیستله دده نور سوالگری همزولی ملگری ورته په انتظار کښی ناست وو، ما هغوی ته دی وسپارلو او ورته می ووئیل چی دی خپل ځای ته ورسوی، دوی ووئیل چه دده خو ځای نشته، کله په یو هوټل کله په بل هوټل کښی شپی کوی، او په گرمی کښی دی او دغه شان نور په سلگونو هلکان د سړکونو په غاړو او یا د دوکانونو مخی ته شپی تیروی، ددی پیښی په لیدلو سره زما په ذهن کی دغه پوښتنی را وگرځیدی.

۱- دغه ظالم چه د یتیم جاوید جان معصوم بدن ئی په لتو او سوکانو وهلو داولی؟ ایا دده زور په هم ده رسیدلو؟ په دی دومره خلکو کښی فقط هم دی د افغانستان د ټولو بدبختیو او مشکلاتو مسؤل ؤ؟ ده خو خپل پلار په همدی انقلاب کښی له لاسه ورکړی او نن دربه در گرځی. خو شاید اصلی وجه داوی چه ددی بدبخته ظالم چه دیو بایسکل مالك دی، زور په هم ده رسیدلو، او کیدی شي چه جاوید یتیم دیوی روپی په خاطر په ته د سپلنیو لوگی کړی وی او په ده په بدلگیدلی وی.

۲- نن په جلال آباد او نورو افغانستان کښی یواځی جاوید جان یتیم نه بلکه په لکونو یتیمان د سپلنو په لوگی کولو خپله گوتهه مور او بی سرپرسته خویندی ساتی.

۳- ددی ماشومانو یتیمانو به څرنگ احساسات وی چه د خپل عمر نورماشومان په لینډکروزرو، پیجیرو، جیپونو، او لکسو والگاگانو کښی وینی؟!

٤- آیا په دی عمر کښی ددی ماشومانو دغه سوال او ذلت (دمجبوری او بدی ورځی په اساس) د دوی مرگ نه دی؟ دا د دوی له هغو پلرونو سره (چه د افغانستان او اسلام په خاطر ئی سرونه ورکړی دی او خپل واړه بچی ئی بی اسری دبل په امید پریښی دی) سره خیانت نه دی؟ په داسی حال کښی چه ډیرو خلکو خپل بچی په پیښورا یونیورسټی پبلك، پیکن سکول او اسلام آباد انټرنیشنل سکول په اسلام آباد کښی) داخل کړیدی او دیو یو هلك او نجلی په سر شل، دیرش زره کلداری او په اسلام آباد کښی د میاشتی په امریکائی ډالرو فیس ورکوی، زما په فکر د دی یتیمانو ماشومانو داوضع او دوی د ژوندی سڅولو نه بدتره خیره ده. دغه یتیمان به په خپلو ژبو دا نغمه ولی نه زمزمه کوی:

روزی که شود إذاالسما انفطرت
وانگه که شود إذاالسماء انکدرت
من دامن تو بگیرم اندر سئلت
گویم پدرم بای ذنبت قتلت

٥- چیرته دی هغه خلك، دفترونه او وزیران چه د افغانستان ددی یتیمانو په نوم ئی په ملیاردونو روپی را غونډی کړیدی؟

٦- ای دموټرونو، تعمیرونو، تجارتونو او عیاشونو خاوندانو! په دغو بی اسری یتیمانو رحم وکړی، او هغه قدیر خدای(ج) مه هیروی چه په دغو معصومانوئی دغه ورځ او امتحان راوستلی دی، هغه قادر ذات چه ستاسی پر دغه ښائسته ښائسته بچو هم دغه ورځ راوستلی شی. ستاسی بچوته هم، د کلدارو، ډالرو، ښائسته او قیمت بها ساعتونو، بنگړو، او ډولی لباسونو په ځای، شلیدلی جامی او د سوال کچکول وربه غاړه کولی شی. دا نن ئی چه دربه در ویښی پرون ستاسی دبچو نه ډیر تازه، آسوده او خوشحاله وؤ. دخدای(ج) دغه رښتینی وینامه هیروئ چی فرمایی: دغه (ښی او بدی) شپی ورځی موږ د خلکو تر مینځه اړوؤ، راړوؤ.

خدای هغه (زوږور) ذات دی چه څوك (دق دق) خندوی، او څوك (په چغو چغو) ژړوی، دغه خدای هر څوك ژړول شی.

۷- الله تعالی هره ناروا تر یو وخته پوری تحمل کوی خو اجتماعی ظلم او فساد ته ډیر وخت نه ورکوی. مشهوره وینادده چه (الملك یبقی مع الکفرولایبقی مع الظلم)

بد وطن او بد کور هغه دی چه له یتیم او مسکین سره پکښی ظلم کیږی. دخدای رسول صلی الله علیه وسلم فرمائی: د مسلمانانو په ټولنه کی ښه کور هغه دی چه له یتیم سره پکښی ښه کیږی، او په مسلمانه ټولنه کښی بدترین کور هغه دی چه له یتیم سره پکښی بد کیږی.

راځی چه ددی حدیث په تله خپل کورونه او هیواد وتلو چه موږ ښه یو که بدترین؟

۸- دا څو ورځی مخکښی په جلال آباد کښی یو نفر ځان وژلی ؤ، د مرگ سبب ئی نه و معلوم او ئی پوری چه ۴مخ

ربانی نه یوازی .

امنیت ټینګ کړی او خلك په ډاډه زړه خپل ژوند کوی خو د ربانی اداره اوس هم د روسانو او هندوانو په مالی او نظامی مرسته د طالبانو د اسلامی غورځنګ په وړاندی خپلی ناروا هلی ځلی جاری ساتی، پر معصومو خلکو بمباری کوی او بی ګناه انسانان وژنی، نو موږ فیصله کړی ده تر هغه پوری به د ربانی له اداری سره جنګیږو تر څو پوری یې چی اسلام ته غاړه نه وی ایښی او ظلم او ناروا ته یې لاس نه وی اخیستی.

خبریال زیاتوی چی د علماوو دوبناو په پای کی د مراقبی رئیس مولوی حمید الله (خالقی) حاضرینو ته په خطاب کی وویل: نړۍ ته دا ثابته شوی ده چی د طالبانو اسلامی غورځنګ له اسلامی نظام نه پرته په نور څه نه قانع کیږی. نو اوس له هر لوری ددغه غورځنګ د وړاندی ﷺ پر ضد هلی ځلی روانی دی چی همدا اوس دروانو ائتلافونو هلی ځلی زموږ ددی ادعا لپاره یو څرګند ثبوت دی، خو تاسو پوهیږئ چی هغوی خو یوځل جهاد او اسلام بدنام کړ، وطن یې په کباړ بدل کړ او هر څه یې له چوکۍ نه قربان کړل نو اوس نه پری څوك غولیږی او نه به پری راټول شی بلکی نتیجه به یې هغه شان وی لکه تاسو چی په پخوانیو ائتلافونو کی ولیده، ځکه دوی څلورکاله په پرله پسی توګه پخپل منځ کی وجنګیدل، دوطن شتمنی یې لوټ کړی نو بیا دا څنګه کیدای شی چی اور اوبه دی سره یو ځای شی.

ده وویل: موږ په دی ایمان لرو څوك چی د شعائر الله توهین کوی الله (جل جلاله) په یې په دنیا او آخرت کی توهین کړی، نو زه ربانی ته مشوره ورکوم چی دهیواد د جمهور رئیس په توګه نه بلکی د کابل د ښاروال په توګه دی له چوکۍ نه لاس واخلی او ملت دی پریږدی چی د خپل راتلونکی ژوند فیصله پخپله وکړی.

د زابل ولایت د یو لړ ...

او یولړ نورو مسئلو باندی خبری وشوی او د زابل په ولایت کی واداری او اقتصادی چارو دلاښه سمون په اړه لازم تصمیمونه ونیول شول.

د کتنی په پای کی ملامحمدحسن اخند د زابل ولایت د یو لړ مشکلاتو د حل او له منځه وړلو په غرض اړونده مراجعوته لازم هدایت ورکړل.

د طالبانو اسلامی تحریک ...

محمد نبی (محمدی) له خوا د طالبانو اسلامی تحریك ته نیکی هیلی او سلامونه ورسول او هم یې د امیرالمؤمنین په توګه د محترم محمدعمر (مجاهد) دټاکل کیدو له امله مبارکی وویله.

دوی په دی کتنه کی په هیواد کی د طالبانو د اسلامی تحریك د اجرآتو ستاینه وکړه او ددی اسلامی تحریك د لا پرمختګ په اړه یې ګټوری مشوری ورکړی.

خبریال زیاتوی چی د طالبانو له اسلامی تحریك سره یې دمولوی (محمدی) له خوایوځل بیادهرډول همکاری ژمنه وکړه او خپل بشپړملاتړ یې ورسره څرګند کړ.

په مقابل کی دعالی شوری سرپرست محترم حاجی ملامحمدحسن اخند د دوی د نیکو هیلو او له اسلامی تحریك سره د پوره ملاتړ له امله مننه وکړه او په دی لارکی یې د دوی د عملی کوښښونو ستاینه وکړه او هغه یې د قدر وړ وباله.

ده زیاته کړه چی د طالبانو مقدس تحریك د علماو کرامو په هدایت پیل شوی او په پرله پسی توګه د علماو کرامو هدایاتو او نیکو مشوروته ضرورت لری، دوی د ملګرو ملتونو د هلوځلو او نورو اړونده مسائلو په باب هم مفصلی او ګټوری خبری وکړی.

ما امیدواریم که در وطن عزیز ما...

تشبع ولایت هرات با تحریك اسلامی طالبان هر نوع همکاری خود را اظهار نمودند، در مقابل والی هرات از حسن نیت برادران اهل تشیع ولایت هرات سپاسگذاری نموده و برایشان اطمینان دادند که تحریك اسلامی طالبان در بمیان آوردن امن و پیاده کردن نظام اسلامی در کشور عزیز از هیچ نوع قربانی و فداکاری دریغ نخواهد ورزید و ما امید واریم که در وطن عزیز ما در پرتو دین مبین اسلامی امن و امان برقرار گردد.

د فراه په ولایت کی...

او د ترلك دولسوالی ولسوال محترم ملاعبیدالله اخند هم ورسره وو.

خبریال زیاتوی چی په دی کتنه کی د فراه والی او ورسره هیئت د عالی شوری سرپرست ته د فراه ولایت د اداری او عمرانی چارو او په هغه ولایت کی د امنیت په اړه معلومات وړاندی کړل.

د عالی شوری سرپرست د فراه په ولایت کی دهغه ولایت د مسؤلینو د ښو اجرآتو په اړه له هغوی څخه مننه وکړه او دچارو دلاښه پرمختګ په اړه یې لازم هدایات ورکړل.

او ورته ئی د لوی خدای (جل جلاله) له دربار څخه د لا بری، اسلامی امت تدښه خدمت، وظیفه پیژندنه او د چارو د ښه تنظیملو غوښتنه وکړه.

د واکسیناسیون د کمپاین دلاښه کیدو په منظور د وه ورځنی سمینار پیل شو

زموږ خبریال له کندهار څخه خبر راکوی چی د ثور په ۱۳ نیټه د کندهار، زابل، ارزګان، هلمند او نیمروز ولایت د روغتیا د چارو د رئیسانو په ګډون د فنی پرسونل لپاره د واکسین د کمپاین دلاښه کیدو په منظور دوه ورځنی سمینار پیل شو. خبریال زیاتوی چی د سمینار د پرانستلو په مراسمو کی د عالی روغتیا رئیس ډاکتر بلوچ او د یوسف د روغتیائی ځانګی مسئول ښاغلی ګلاوس د واکسین د اهمیت په اړه د سمینار ګډون کونکو ته معلومات ورکړل.

د سمینار په نتیجه کی به دواکسین عمومی کمپاین د تکړه او با تجربه روغتیایی کارکوونکو له خوا په ښه توګه پرمخ ولاړ شی.

۹

لاسونه دی ...

په جیب کښی یې یو خط پروت ؤ، چه په لاندی ډول پکښی لیکل شوی وو:

«زه خپل ځان وژنم، ځکه زه نور له خپلو ماشومانو او ښځی نه شرمیږم، زه سحر د رزق په طلب کښی وزم او تر بیګاه پوری دومره څه نشم پیدا کولی چه خپل فامیل پری یو وخت موړ کړم، ددی ژوند نه خو مرګ ښه دی، کم از کم په خپل فامیل خو به دابده ورځ زه په خپلو سترګونه وینم، ځکه زه ځان وژنم».

آه! یو خوانه دومره فقر او بلی خوانه یواځی دانه چه په ګرمی کښی په مری، بحرین، کالام او مدین کښی په ډیرو مصرفونو او عیاشیو اوړی تیروی بلکه په حیاب آباد او اسلام آباد کښی هم د تعمیرونو په جوړولو او په ښه مرسیډیز او موډرن ترین موټر په لرلو کښی مسابقی هم کوی.

چه د جلال آباد نه پیښورته روان شی د جوزا او سرطان په سخته ګرمی کښی چه ستا لیندکروزر، پیجیرو او نور بانی فور موټر د ثمرخیلو او شیرشاهی په ګرمو دښتوکی روان وی او ستاسره لس پنځلس نفره تویکیان شاته ناست وی چه کله پری څوك وژنی کله پری څوك وهی، کله پری څوك سپکوی، او کله پری نور څه کوی او ستایخ کیږی. سګریټ دی په لاس، د منګل او نغمی فته دی وراچولی وی، د سیون اپ (Sewan up) سپرایټ (Sprite) او پیپسی (Pepce) قوتی دی په کولر کښی په څنګ کی پرتی وی نو د سړك خوا او شا خیموته هم لږ نظر وکړه!!

چه په دی سور تمر کښی په وږی او تږی ګیډه او لغړ بدن به سپین زیری، ماشومان او ښځی څرنګه وخت تیروی! ایا دغه نن درپه در، همدغه شان بدبخته پیدا شوی دی او که نه دا ورځ په تاهم راتلی شی.

باید په دی پوښتنو غور وکړی، که په دی شپو ورځو کښی دلوی اختر په خوشحالو کښی د خپلو ماشومانو لاسونه په نکریزو سره کوی، نوی کالی ورته اغوندی او دقربانۍ غوښی ورته کباب کوی او بیا ورته د یخچالونو نه یخی بوتلی او میوی ورکوی نو بلی خواته په دغو دښتو او خیمو او غرمو کښی پراته خلك خپلو ماشومانو ته خپل مړی او شهیدان ور په یادوی چه تر څو دوی د نکریزو، نووکالو غوښتنه ونکړی.

ای لویه خدایه! لږ دغو ګرمو دښتوته هم اختر راوله او پخپلو دغو بی اسری بندګانو باندی هم رحم وکړه.

د عالی شوری سرپرست د ګیزاب ...

زموږ خبریال له کندهار څخه خبر راکوی چی د کتنی دغه درنده غونډه د عظیم الشأن قرآن د څو مبارکو آیتونو په تلاوت پیل شوه او وروسته د عالی شوری سرپرست الحاج ملامحمد حسن اخند درنو میلمنو ته ښه راغلاست وویل زیاته یې کړه: دطالبانو اسلامی تحریك له هر ډول ژبنیو او قومی تعصباتو څخه پاك دی، نو دهیواد له ټولو مسلمانانو څخه زموږ هیله داده چی ټول هغه ناوړه عنعنات او رواجونه له منځه یوسی چی د اسلام مخالف وی.

ده زیاته کړه: موږ کوښښ کوو چی پخپل اسلامی هیواد افغانستان کی دهر ډول تعصباتو جرړی وباسو او دیوی سوچه اسلامی ټولنی په جوړولو ددین او وطن د دښمنانو د هرډول توطئو او دسیسو مخه ونیسو.

خبریال زیاتوی چی دعالی شوری د سرپرست له څرګندونو وروسته جهادی قوماندانانو هر یوه پخپل وار سره ګټوری خبری وکړی او دی ویل:

موږ په ګران هیواد افغانستان کی د اسلامی نظام دنفاذ په لارکی هرډول قربانی او سرښندنی ته تیار یو او حاضر یو خپلی ټولی سپکی اودرندی وسلی د طالبانواسلامی تحریك مسئولینوته وسپارو.

په دی کتنه کی د ګیزاب ولسوالی داهل تشیع په نورو وروڼو سربیره دغه قوماندانان او مشران هم شامل وو: د اکبری د وحدت دګوند د حوزی عمومی آمر ښاغلی اعتمادی، ښاغلی امان الله، ښاغلی فضلی، ښاغلی بیانی، ښاغلی احمدی، ښاغلی اخلاقی، ښاغلی مظهری، ښاغلی سجادی او ښاغلی یعقوبی.

دکتنی دغه غونډه په ګران هیواد افغانستان کی د اسلامی نظام په سیوری کی دپوره امن او استقرار د ټینګښت په دعا پای ته ورسیده

د ملامحمد حسن اخند په مشری د طالبانو یو لوړ رتبه هیئت په میدان او لوګر کی لومړی کرسی وګټلی،

کامیابی او نصرت په اطاعت، استقامت، صبر او زغم کی نغښتی دی

دعالی شوری دسرپرست او دکندهار دوالی محترم ملامحمدحسن اخند په مشری یو لوړرتبه هیئت د ثور په ۲٤ نیټه زابل، غزنی، میدان او لوګر ته ولاړ او په هغو سیمو کی یې له مسئولو مقاماتو سره دهیواد دروانو حالاتو په اړه ګټوری خبری وکړی.

زموږ خبریال له کندهار څخه خبر راکوی چی په دی لوړ رتبه هیئت کی اتل قوماندان ملابور جان اخند، د کندهار امنیه قوماندان الحاج ملاعبدالصمد اخند (عالی شوری غړی محترم ملانورالدین(ترابی) د مخابراتو رئیس ملا الله داد اخند، د کندهار د نساجی فابریکی مسئول، د دامان ولسوال الحاج ملاعبدالهادی اخند، دسری میاشتی رئیس مولوی نوراحمد، دعالی شوری غړی الحاج ملامحمد صادق اخند، د دوهم لیر قول اردو دمالی چارو مسئول مولوی محمد طاهر، ملا عبدالقیوم اخند او دعالی شوری یو شمیر غړی شامل وو.

خبریال زیاتوی: هیئت د کابل اداری له قواتو سره په لومړیو کرسوکی د طالبانو د اسلامی تحریك پراته قواتونه و کتل دهغوی قوی مورال او لوړه اراده یې وستایله ورته دی ویل کامیابی او نصرت په اطاعت، استقامت، صبر، زغم او نورو اسلامی صفاتو دولودلو کی نغښتی دی.

خبریال زیاتوی: په مقابل کی په لومړیو کرسو کی پرتو قواتونو او دهغوی قوماندانانو په هیواد کی د ظلم او فساد له منځه وړلو په لارکی د هرډول قربانی او سر ښندنی ژمنه وکړه، هیئت په خیر او سلامتی کندهار ته ستون شو.

نماینده گی تحریك اسلامی طالبان (پشاور) به خبرنگار شریعت گفت:

ما تجویز منع صدور اسلحه به افغانستان را تایید میکنیم

هیئت اعزامی کابل به اسلام آباد نماینده مردم افغانستان نیست

اداره کابل به قوماندان چه کسی از ترمیم سرك جمن - تورغندی حمایت کرد؟

یکی از مقامات مسئول نمایندگی تحریك اسلامی طالبان به خبرنگار شریعت گفتند:

در عرصه، چهار سال گذشته علت اصلی جنگهای داخلی در افغانستان کمکهای نظامی و مالی روس، هند و ایران به اداره، کابل است که فرود آوردن طیاره های حامل این مهمات در قندهار و قزاقستان گواه صادق آنست، ما میخواهیم که غرض منع صدور اسلحه به افغانستان عملی گردد تا در نتیجه، آن اداره، کابل به اراده ملت تسلیم شود.

ایشان در جواب سوالی گفتند: هیئت اعزامی کابل به اسلام آباد نماینده مردم مسلمان افغانستان نبوده بلکه یك عمل انفرادی محد .....ب شده مربوط به آن عده بدمستانی میشود که بخلاف آداب همسایگی و ..... هیچگونه عمل بر انگیزنده سفارت پاکستان را ویران و سوختانده و عمله آن را مجروح و بقتل یك تن منجر گردید.

وی افزود که: اداره ربانی قبلاً ترمیم سرك جمن - تورغندی که در تسلط تحریك اسلامی طالبان است رد کرده بود اکنون که از ترمیم آن حمایت میکنند مایه تعجب است تا معلوم شود که مشوره چه کسی بوده باشد؟

آنها گفتند: در پانزده ولایت زیر تسلط طالبان هیچ کسی از کمونستها نیست ولی در اداره، کابل کمونستهای معروف صاحبان پست و کشتار اند. اوشان بردم مسلمان افغانستان مشوره داد که به سؤ تبلیغات اداره، در حال نزع کابل فریفته نشده به قضاوت اسلامی خویش در صف نیك مردان تحریك اسلامی طالبان جایگیرند.

د ظلم او ناروا د دوام ...

له څلورو کلونو څخه را پدیخوا چی په افغانستان کی کوم ظلمونه او ناروادی کیږی بوازینی علت یې اختلاف او ځان غوښتنه ده، تر څو پوری چی دغه مسلمان ملت پخپل هیواد کی اسلامی شریعت او د الله حکمونه په عمل کی پلی نه کړی ښه ورځ به ونه ګوری.

ده زیاته کړه کومی سیمی چی د طالبانو د اسلامی غورځنګ د قواتونو تر کنترول لاندی دی تا سو ګورئ چی خلك په امن او خوشحالی کی ژوند کوی، بوازینی علت یې دادی چی په دی سیموکی اسلامی شریعت نافذ شوی او دخدای(ج) له احکامو سره سم عمل کیږی.

ده زیاته کړه د ځینو اسلام دښمنو قواتونو تر څنګ ځینی د اسلام ټیکه داران هم کوښښ کوی چی د طالبانو د اسلامی غورځنګ پر خلاف سره متحد او دغه اسلامی غورځنګ له ماتی سره مخامخ کړی چی د ربانی او حکمتیار اتحاد زموږ د دغی ادعا یو ښه ثبوت دی او تاسو پوهیږئ چی دغه نا مقدس ائتلاف د هغو باداراتو په کوښښ او هڅه کیږی چی زموږ اسلامی وطن یې په کنډواله بدل کړ او هم دوی یې تر پرونه پوری پخپلو کی سره وجنګول خو موږ په دی ایمان لرو هر هغه اتحاد او ائتلاف چی په اخلاص او صداقت ولاړ نه وی او له بلی خوا چی د حق د پلویانو پر ضد را پورته شوی وی لو سل په سلوکی له ناکامی سره مخامخ دی او پایښت نه شی کولای.

ده وویل: موږ اتلس کاله د اسلامی نظام د نفاذ لپاره قربانی ورکړی دی، اتلس لکه شهیدان مو ورکړی دی او خوارلس کاله مو د هجرت او جهاد ستونزی ګاللی دی تر څو پخپل اسلامی هیواد کی د اسلامی نظام په نفاذ سره سوله او امنیت راولو، تاسو پوهیږئ چی سوله او امنیت پخپله نه راځی بلکی سوله او امنیت د حدود الله په تطبیق او جاری کولو کی نغښتی دی، نو ربانی که سوله غواړی تر خپل کنترول لاندی سیمو کی دی اسلامی نظام نافذ کړی او ځان دی حق ته تسلیم کړی.

د پکتیکا ولایت د بیا ودانولو ...

څرنګه چی ټولو مسلمانانو ته څرګنده ده چی د طالبانو اسلامی غورځنګ په ټول هیوادکی د اسلامی نظام د نفاذ او بیا ددغه نظام په سیوری کی دهیواد دبیاودانولو لپاره لیچی را نغښتی دی، چی په دی اړه یې دهیواد په ټولو ولایتونوکی د بهرنیو اړیکو دفترونه پرانستی او غواړی د خیریه مؤسسو په مرسته د بیاودانولو چاری پر مخ بوزی.

د پکتیکا ولایت د بهرنیو اړیکو د دفتر رئیس ثاقب کټوازی دغه ولایت ضرورتونه داسی په ګوته کړی:

د صحت او روغتیا په اړه د نورو فعالیتونو تر څنګ دواکسیناسیون پروګرام د ټولو عمومی او فرعی سړکونو ترمیم او د ترافیکو د استفادی لپاره برابرول، د کاریزونو بیا فعالول، پاکول او د اوبه خور وړ ګرځول.

د ښوونی او روزنی لپاره د امکاناتو او مواد برابرول.

د کرنی د دستم بیا فعالول او اصلاح شوی تخم او سری برابرول او د څښلو د روغتیا یی اوبو برابرول او د امکان په صورت کی دتلفونو لګول.

امیر المؤمنین محمد عمر (مجاهد) ...

په هرات کی د طالبانو د اسلامی غورځنګ حوانان په پوره نظم او دسپلین خپلی ورسپارل شوی چاری په صداقت او ایمانداری سره پر مخ بیائی.

ده وویل: اوس په هرات کی امن او استقرار په بشپړه توګه تأمین او خلك په پوره ډاډ او پرته له کومی ویری خپلو ورځنیو چاروته دوام ورکوی، خلك د طالبانو د اسلامی غورځنګ د اسلامی هلوځلو ملاتړ کوی او د دسمنانو د هرډول دسیسو او هڅوتو په وړاندی هرډول قربانی ته تیار دی.

په پای کی امیرالمؤمنین دهغه له اسلامی هلوځلو څخه مننه وکړه او دهرات د امنیت په اړه یې لازمی لارښوونی ورته وکړی.

د ګډون بیه	شپږمیاشتنی	کالنی
پاکستان	Rs. 200	Rs. 400
د خلیج هیوادونه	SR. 150	SR. 300
اروپا او امریکا	$: 75	$: 150

یو عراده تیښتول شوی ...

خبر راکوی چی په هیواد کی د طالبانو د اسلامی تحریك له پیل کیدونه مخکی یو شمیر غلو او ډاکوانو د کراچی له ښار څخه یو عراده (کروزینګ) لوکس موټر غلا کړی او کندهار ته یې بیولی و، چی هلته دوخت واکمنو ورڅخه ناجایزه استفاده کړله، خو په دی وروستیو وختونوکی د هغه خاوند کندهارته راغی او دخپل موټر دورکولو غوښتنه یې وکړه.

خبریال زیاتوی چی د طالبانو د اسلامی تحریك مسئولینو له ټولو شرعی او قانونی پلټنو وروسته دا ثابته کړه چی نوموړی موټر غلاشوی او اوس د ناجایزی استفادی وړګرځیدلی دی، نو هغه یې خپل خاوند ته وسپاره.

په دی اړه دعالی شوری غړی محترم ملانورالدین (ترابی) له شریعت ژغ راډیو سره په یوه مرکه کی وویل:

موږ باید ترټولو دمخه پر خپل ځان شریعت عملی کړو او دخلکو شخصی مالونه که له بیت المال سره هم وی باید خپلو اصلی خاوندانوته وسپارو او په دی توګه په هیواد کی واقعاً اسلامی نظام نافذ کړو.

امیر المؤمنین د میوند ...

ولسوالی ته ورسید د میوند ولسوال محترم ملاسیدکریم آغا او دهغی ولسوالی زیات شمیر اوسیدونکو ورته تود هر کلی ووایه.

ولسوال ملا سیدکریم آغا امیرالمؤمنین ته دولسوالی د اداری او عمرانی چارو په اړه توضیحات ورکړل او دهغی ولسوالی د خلکو شرعی غوښتنی یې دهغوی حضورته وړاندی کړی.

په مقابل کی امیرالمؤمنین د ولسوال او د ولسوالی دنورو مسؤلینو د ښو اجرآتو له امله له هغوی څخه مننه وکړه او د چارو دلاښه والی په اړه یې لازمی لارښوونی ورته وکړی او د ولسوالی مسؤلین یې خپلو درندو مسئولیتونو ته متوجه کړل.

په غزنی کی یوه اندازه ...

خبریال زیاتوی چی په دی وسله کی دری میله کلاشینکوف، دوه میله ۳۰۳ بر ټوپکونه یو میل د میکاروف تومانچه، یوه بوجۍ د کلاشینکوف ګردنی او یوه زیاته اندازه د کلاشینکوف کارتوس شامل وو.

خبریال زیاتوی چی مجرمانو غوښتل دغه وسله او مهمات د پلورلو لپاره ولیږدوی خو دهغه ځای د امنیتی ساتونکو له خوا ونیول شول، تورن کسان د تحقیق لپاره مربوطو مقاماتو ته وسپارل شوی او وسله بیت المال ته تسلیم شوه.

د هیواد د ټولو بدبختیو ...

هیواد کی د ټولو بدبختیوګډ ربانی لاس پوځی اداری په غاړه واچول شوه او وویل شول چی د روس له خوا د زیاتو پیسو په چاپولو سره زموږ د ګران هیواد اقتصادی او اجتماعی اداتو دری وړی شوه او اوس زموږ هیواد وال له زیاتو اقتصادی ستونزو سره لاس او ګریوان دی، خو ددغو مشکلاتو دله منځه وړلو لپاره دلازمو هلوځلو په باب تصمیمونه ونیول شول.

من مزدور خانم نه مزدور بادنجان

با نام و عنوان (ملل متحد) همه کم و بیش اشنائی و معرفت دارند و آنرا با حیث یك اداره، معتبر و با وقار جهانی شناخته و به آن امید ها بسته و از آن آرزوها دارند، به خصوص مستضعفین دنیا که زیر چکمه های استعماری زورمندان به اشکال و انواع مختلف به بهانه های رنگ به رنگ سیاسی، اقتصادی، حقوقی، نظامی و... مستقیم و غیر مستقیم گلوی شان فشرده میشود و سرمایه های مادی و معنوی شان به یغما برده میشود.

آنچه از تأسیس و ظهور این اداره به ما میفهماند آن: دفاع از حقوق حقه و مسلمه بشری و انسانی جامعه، بشری میباشد که باید از شر و ضرر زورمندان مصئون و محفوظ باشند و ارزشهای انسانی نقض نشده و مورد تجاوز و هجوم احدی قرار نگیرد و از آن به قوت وحدت دفاع صورت گیرد و از نعمت صلح وامان همه بدون امتیاز و استثنا، برخوردار باشند.

اما آنچه از روز اول معلوم بود و امید ها را میتوانست به نا امیدی تبدیل نماید طوریکه تبدیل نمود آن: نداشتن قدرت و توان مستقل اجرائی این اداره (ملل متحد) و گرفتن یك شکل اخلاقی بدون تضمین را به خود بود واز طریق دیگر احتیاج همه جانبه، آن در همه موارد به خصوص در مسایل مالی و اقتصادی به کشور های به اصطلاح بزرگ و معظم.

دیگر قیشد که ملل متحد با آنهمه ضعف و احتیاج خود به رحم و کرم اول قدرتها به آنها نزدیك نشده و ممثل اراده های آنها بسطح جهانی در خفاء و علنی قدری نگردیده باشد و حق به خصوصی که دیگران از او برخوردار نباشد به اوشان ندهد که آن: استفاده از حق ویتو به دول که حیثیت اعضاء دایمی را به آنها قایل شده اند میباشد. اگر قاطع و توجیه کننده، دول استعماری بر سازمان ملل متحد اظهر من الشمس بوده و سازمان متذکره اگر طوعا نباشد جبراً خود را در حیطه سلطه نافذه قدرتهای محدود و معدود جهانی باید قرار بدهد ورنه روزگارش خراب و بازارش به کساد مواجه خواهد شد. به این ارتباط قصه، بیاد آمد که میگویند: خانی را مزدور بود و به طبع آن کار کردی و خانرا بادنجان (سیاه) خوش آمدی و مزدور غرض خرسندی خان از بادنجان، برگ، گل و... به حضور خان صفت کردی روزی طبع خان از بادنجان گرفتی و از آن ذم گفتی، مزدور علی الفور به ذم و قبح بادنجان و رنگ سیاه آن زبان گشودی و بدیهای زیاد از آن گفتی، یکی از حاضران از مزدور پرسیدی که قبلاً از آن صفتها کردی و الحال ذم و بد گفتن مزدور در جواب گفتی که: من مزدور خان صاحب میباشم نه مزدور بادنجان.

ساختمان فکری و سیاسی، اقتصادی و نظریاتی خان صاحبان جهانی و اداره های اوشان همه را معلوم بوده و بسیاری از کشورها، ملتها و نهضتهای دنیا از مزه، آن مستفید و طعم تلخ آنرا چشیده اند. اساسات فکری و اخلاقی تمدن امروزه که خان صاحبان مسلط بر مقدرات جهانی حاکمیت آنرا طوعا و کرهاً برجامعه، بشری میخواهند یکلی از ارزشهای معنوی و روحانی مبراء و خالی بوده و نیتوانند که صلح و امنیت را به جامعه، بشری به ارمغان آرد طوریکه نیاورده است.

از روزیکه جهان خود را در حیطه و سلطه تکنالوژی و پیشرفتهای محیر العقول علوم طبیعی یافته است و از فیض معنویت و روحانیت متأسفانه محروم و بیگانه شده و در تحت زمام داری بدمستان نشسته، رقابتهای اقتصادی و سیاسی قرار گرفته است دیگر نتوانسته که آغوش آرام و پر مهری برای اولاد آدم (علیه الصلواة و السلام) باشد، بلکه هر وجب وجب آن نابه آتشین برای حضرت انسان شده که جسما و یا روحا و یا در هر دو جنبه، آن انسانرا در پنجه، نحس خود قرار داده رنج و آزار میدهد.

خوب گفته است فلسفی هندوستانی در جواب پروفیسور (جود) اروپائی.

جود میگوید: وقتی مدح و ستایش عجایب تمدن خود را پیك فلسفی هندوستانی میگفتم، فلسفی در جوابم گفت: بلی! درست است شما به مثل مرغها به هواء پرواز میتوانید و همچون ماهی در میان قعر آب رفته میتوانید، اما تا حال همچون انسان بر زمین رفتن را یاد نگرفتید.

ملل متحد بیچاره چه باید کرد در تحت فشار همچون تمدن و همچون تشکیل آن قرار دارد، اگر جرأت زبان قال را در خود نمیبیند به زبان حال میگوید که ناتوانی و محکومیت ام را در اراده های خان صاحبان بلکه امروز در اداره، خان واحد... از تاریخ حیاتم بدانید و توقع بالاتر و بیش تر از آن نه نمائید. در مقابل ملت مظلوم ویتنام، کمبود یا فلسطین، کشمیر، اریتریا، افغانستان، افریقا، چیچنیا، کرد و.... در گذشته به نفع آنها چه کرده ام که فعلاً نمائیم و یا به آینده ام توقع بست، آنچه اساسات عقیدوی من و تمدن امروزه (دیموکراسی) را در الجزایر روی مصالح خان صاحبان زیر پای نمود در مقابل آن به جز سکوت دیگر هیچ چیز گفته و کرده نتوانستم و باید میگفتم که مسلمانهای آن دیار روی مبارزات انتخابی مطابق اساسات پذیرفته دیموکراسی به پیروزی رسیده اند نباید نتائج آن را تخریب و نادیده گرفت و ملت الجزایر را بدون هیچ گناهی به همچون خون ریزی شدید مواجه کرد اما...

بر ساختمانی که در اشرافم در لبنان قرار داشت و صد ها تن از زن، طفل از شر حملات اسرائیل بر جنوب لبنان در آنجا پناه بردند و مورد حمله، اسرائیل قرار گرفت و بیشتر از صد طفل و زن را به خاك و خون کشید چه گفتم و چه توانستم! من تنها آنچه میگویم و میکنم که خان صاحبان بگویند طوریکه در عراق قهرمانی ام را دیدید لیبیا و سودا نرا هم به میدان کار زار دعوت نموده ام و اگر جای و ملتی دیگری را هم خان صاحبان لازم دانند بعید نیست که بسر نوشت عراق مواجه بسازم و الجزایر، کشمیر، چیچنیا، تاجکستان، افغانستان و... را تحت نظر دارم صباح و بیگاه حسب امر چیزی به آن ارتباط میگویم و گاه گاهی سر به آن دیار هم میزنم.

به ارتباط طالبان باید گفت: آنچه از امن و امنیت، مصئونیت و محفوظیت سر، مال عرض و ناموس به مردم خویش به ارمغان آورده اند غرب با داشتن همه وسایل مادی و تخنیك پیش رفته، خویش و پرسونل تربیه شده و تجربه دار که در اختیار دارد قادر به تحکیم و استقرار همچون امنیت در کشور های خود نشده اند، آنچه طالبان در مبارزه قاطع خود علیه (مواد مخدره) این دشمن بشریت با بشریت همنوائی نشان داده است از احدی پوشیده نخواهد بود و آنچه طالبان پیروزی در خلع سلاح عامه بدست آورده اند این اولین خواسته در طرح قیام صلح در افغانستان بود، وآنچه طالبان از .... بدست آورده اند همه انسانی و به نفع ملت افغانستان و جامعه، بشری میباشد.

اما اینکه ما(ملل متحد) روزی قفل به در یك اداره خود در مناطق طالبان میزنیم و روزی به در دیگر اداره، خود روزی ملت آنجا را که بیشتر از نصف کشور افغانستان را تشکیل میدهد از کمکهای تعلیم و تربیه، خود محروم میسازیم و روزی هم جریان کار های تعمیری که طالبان باراده، محکم خود با پذیرش خطرات به آن دست زده اند از قبیل تصفیه و پاکسازی مناطق از شر ماین، تخریب میثمائیم به جای اینکه از تجارب خود و وسایلی که در اختیار داریم اوشانرا یاری رسانده و رفع مشکلات و نواقص فنی آنها را به این ارتباط کرده باشیم. این همه از مجبوریت بوده و ما را در ان متأسفانه مجبور اراده های خان صاحب باید دانست و باید گفت که خان صاحب ممکن هر چیزی را تحمل کند و در مقابل آن گذشت اختیار نماید ولی چیزیکه شما از آن ابداً نخواهید گذشت و از آن دست نخواهید کشید. (شریعت و تنفیذ آن) در کشور تان خان صاحب تحمل آنرا نداشته و نخواهد داشت ■

یادونه

ښایی ستاسو ایمان به اجازه در نکړی چی دا ډول سپیځلی پاڼی په ناوړو ځایونو کښی وغورځوی.

(اداره)

SHARIAT WEEKLY

Publisher : Islamic Movment of Taliban of Afghanistan.

Editor -in- Chief : Movlavi Ahmad Jan.

Tel : 840378

PAK - RUPE A/C. CD. No. 1694 -69.

Habib Bank LTD. Tehkal Bala Branch (Code 0267)

Peshawar, Pakistan